مورچل

دوولسم کال، دویمه، پرلپسې ۱۱۴مه گڼه،
جمادی الاولی ۱۴۳۹هـ ق فبروري ۲۰۱۸م

دولسي پاڅون څپه
طوفاني کیږي!

- ارګ د سولې او جنګ واک نه لري
- طالبانو د سولې پروړاندیز سړې اوبه توی کړي...!!
- محلي ملیشې د جګړې غځولو یوه بله امریکایي دسیسه
- فراه او تخار ملاماتوونکي جهادي ګوزارونه
- دیرغلګرو په شتون کې د سولې نارې ربښتونې دي؟!

امریکا په ۶۰۰۰ ورځو کې څه ترلاسه کړل؟

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

دوولسم کال دويمه، پرلپسې ۱۱۴مه ګڼه، جمادی الاولی ۱۴۳۹هق فبروري ۲۰۱۸م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	طالبانو د سولې پروړاندیز سړې اوبه توی کړې.....	۲
۳	محلي ملیشې د جګړې غزولو یوه بله امریکایي دسیسه.	۶
۴	ارګ د سولې او جنګ واک نه لري!.....	۹
۵	امریکا په ۶۰۰۰ ورځو کې څه تر لاسه کړل؟.....	۱۲
۶	د یرغلګرو په شتون کې د سولې نارې ربښتیونې دي؟...	۱۵
۷	د صحي مراکزو تخریبول د جنګي جنایت په توګه!.....	۱۹
۸	د اتل شهید مولوي سعید الله عاجز ژوند ته کتنه.....	۲۲
۹	د دروېش مجاهد مولوي فضل غفار ژوند لیک.....	۲۶
۱۰	واک او دنده غوښتل د اسلام له نظره.....	۳۲
۱۱	دتخار او فراه ملاماتوونکي جهادي ګذارونه.....	۳۶
۱۲	د حماس پر ضد د داعش د جنګ اعلان.....	۳۸
۱۳	زموږ ښوونیز نصاب او د علمي کدر دنده.....	۴۲
۱۴	په جګړې څوک ټبل شیندي؟.....	۴۴
۱۵	د اسلام غزوات او سرایا	۴۶
۱۶	د مورچل وړمې.....	۵۰
۱۷	د ۲۰۱۸م کال د فبروري میاشتې جهادي خبرونه.....	۵۲

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی :

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دولسي پاڅون څپه طوفاني کيږي!

رښتيا هم کور بار ترمنزله نه رسيږي، پرون يې داربکي ملښو درامنځته کولو لپاره پراخې پيسې وشيندلې او ځای ځای به يې په ټولنه کې دمنفورو بداخلاقه افرادو ډلې ټپلې راټولولې، په پيسو او وسلوبه يې سنبالول او بيا به يې دولسي پاڅون او پاڅونوالو نوم ورکاوه، نن چې دهغوی داعمالو او کردار په وړاندې پراخ ولسي پاڅون رامنځته شو، له ارګه ورته عذر و زاری کوي او بيا د داسې بدو دنه کړو وعدې ورکوي .

ارګ چې دا کردار دهيواد په يوه برخه او سيمه کې نه ، بلکې په ټولو ولايتونو کې ددغه بد تخم دکرلو کوښښ کړی نن يې له ډېرو بدو پايلو سره مخ دی .

دهلمند، تخار، غزني، خوست، پکتيا، پکتيکا او نوورو ډېرو سيمو کې ولسي خلکو ددغه فاسد قشر له اذيت او کړاو وروسته دښته مجبور شول چې لاريونونه وکړي اوپه ډله ايز ډول دکليونه، بلکې دولسوالیو او ولايتونو په سطحه په اعتراض راووزي .

داد هغه بد بوټي بدې پايلې دي چې مکار دښمن يوائې دمسلماني افغاني ټولنې دفاسدولو په غرض کرلی ، ځکه هغوی په دې ښه پوهيدل چې دطالبانو په وړاندې رزول شوی مجهز پوځ ناکام دی ، نو اطرافي بې تجربې او ناروزل شوي خلک کله کولای شي دهغوی په وړاندې مقاومت وکړي .

خو ګوډاګيانو يې پرته له دې چې پايلې يې وسنجوي اوپه افغاني ټولنه کې ددې بدبوټي کرکه اونفرت په پام کې ونيسي، په پټو سترګو يې په اکمال او تجهيز لاس پورې کړ . او لا لګيا دي دادی په دې اړه يې دامريکايانو يوه بله نوې طرحه د ۴۵۰۰۰ محلي پوليسو په نامه ترکار لاندې نېولې، سره له دې چې منفي اغېزې او په وړاندې يې دولسي کرکې په زياتېدو ښه پوه دي، خو داچې طرحه دبادارانو له خوا ده نو مجبورا يې بايد په پټو سترګو عملي کړي.

دافغانستان ولس مسلمان ولس دی، دجهاد جذبه په خټه کې ورسره مله ده، هيڅکله به دښمن ددغسې پلانونو له مخې خپل هدف ته ونه رسيږي، داسلامي امارت ترمدبرانه زعامت لاندې به د دين او دهيواد عليامصالحوته په رسېدو کې هيڅ درېغ نه کړي . دغسې شوم پلانونه ددې ځای چې دښمن خپل هدف ته نږدې کړي، ولس داسلامي امارت په خواکې دروي .

طالبانو

د سولې پروړاندیز

سړې اوبه توی کړي ...!!

موسی فرهاد

یوې امریکایی ویب پاڼې د رویټرز د خبر په حواله تر پورتني سرلیک لاندې یو مطلب خپور کړی، بارنټ روبین ته د ذبیح الله مجاهد د ځوابي لیک ځینې ټکي یې را اخیستي او ویلي یې دي چې د کابل د سولې وړاندیز ته د طالبانو ځواب دا دی : « که رښتیا امریکا پر تفاهم باور ولري، نو موږ د ستونزو د حل لپاره مخامخ تفاهم ته په پوره صداقت ژمن یو، موږ د هیڅا په چارو کې د مداخلې اراده نه لرو او نه هم د امریکا په ګډون له کوم هیواد سره دښمني کول غواړو. امریکایي حکومت، ولس او پارلمان ته مو مکرر لیکونه استول هم په دې منظور وو چې دغه پیغام ورسوو. خو امریکا پر تفاهم باور نلري.

ممکن ټوله نړۍ له امریکا څخه ویره ولري، خو موږ له امریکا څخه ویره نه لرو، موږ د امریکا هرڅه وزن کړي، موږ د هغوی سره په جګړه کې ډیر څه زده کړي، امریکا هغه هیواد نه دی چې باید په نورو هیوادونو کې د حکومت نوعې او بڼې وټاکي.

زموږ ملت داسې نه دی لکه نور هغه ملتونه چې امریکا همدا اوس لاندې کړي، ګټې یې خوري، استعماري اهداف په کې تعقیبوي او مخامخ د هغو په کورنیو چارو کې مداخله کوي، په داسې صورت کې موږ د امریکا هیڅ پروا نه لرو، نه خبرې ورسره کوو، نه جګړه دروو او نه هم ورڅخه ستړي کیږو، بیا دې امریکایي کار پوهان او څېړونکي د زیانونو شمیر ونیسي چې څوک ډیر زیانمن کیږي او څوک جګړه بایلي؟ »

تر یاد مطلب لاندې د تبصرو یا کمینټونو په برخه کې خلکو خپل شخصي نظرونه څرګند کړي: چې موږ یې د یو څو تنو خبرې کټ مټ را ژباړلي او ستاسو سره یې شریک کوو. ترڅو د افغانستان د روانې امریکایی جګړې په اړه د عامو امریکایانو د نظریاتو یوه بیلګه

وموندلای شو. او په دې پوه شو چې خلک له جګړه مار امریکـایی حکومـت سـره ملګري دي کـه يـې مخـالف دي.

۲ hr agoMNK

Why they will talk to devil advocate, rather they will talk directly with devil.

ولی دوی بايـد د شيطان له استائي سره خبري وکـړي، دوی بايـد مستقيم لـه شـيطان سره وږغيږي.

٤ Drunken Yeti hr ago

Trump, NOT winning here, ever. Bring our troops home.

ټرمپه ! هيڅکله يی ګټلی نشـي، زمـوږ سـرتيری بيرتـه خپل کور ته راوله.

Abdul B ٦ hr ago

graveyard of empires

د امپراتوريو هديره

۳ hr agoNoah

NO MORE SOLDIERS DEAD BODY

مـوږ د نـورو پوځيـانو د جسدونو ليدل نه غواړو.

۲ hr agoT

Why is this a surprise? After we have been pouring hot lava on them for over ١٦ years why should they trust us? Now that we have accepted defeat, bring our young men and women home.

دا نـو کومـه د تعجـب خبـره ده ؟! (د سـولې پـر وړانـديز سـړي اوبـه تويـول) موږ چې دا ١٦ کاله پر هغوی ګرمي اوبه تويـولي، اوس ولـي دوی رابانـدي بـاور وکـړي. اوس چـې مـوږ خپلـه مـاتي منلـي؛ پکـار ده چـې خپـل ځوانـان او ښـځينه مـو بيرتـه کورته راولو.

۳ ۲ Much Logic hr ago

We need to get out of Afghanistan and let Afghans resolve their problems.

موږ ته پکـار ده چې نـور لـــه افغانســـتانه را ووزو او افغانان پريږدو چې پخپلو کې خپلي ستونزي حل کړي.

۳ hr fallen angel ago

When King Solomon build Temple Mount, material was brought from around the world to complete it. Something was brought from then Afghanistan. Engineers tried their best to put the material but failed and they went to King Solomon and told the story that there is no place to put that material in the building. King Solomon said.

"Kabul" Meaning, good but useless.

کله چې پاچا سلیمان هیکل سلیماني جوړ کړ، د نړۍ له ټولو برخو څخه یې مواد راوړل چې وربانديي تکمیل یې کړي، یو شی له افغانستانه هم ورته راوړل شول خو معماران ونه توانیدل چې په ودانۍ کې یې ځای پرځای کړي، دا خبره باچا ته ورسیده، باچا وویل: کابل مانا ښه خو بې ګټې.

۲ hr agoBernie The U.S. is going to keep pressure on the Taliban???? Pressure to keep winning??? Pressure to continue to kill? Pressure to continue to blow up the capital city? Pressure to sit at the peace table? They are winning!!! They have control over most of the rocks and mountains over there. They do not spend millions/billions on weapons systems, tanks, fighter aircraft, drones, etc and mercernaries. President Trump, tell the Joint Chiefs of Staff that you want a plan within ٤٨ hours to bring all American forces home to begin in one week.

امریکا غواړي پر طالبانو فشار جاري وساتي؟؟؟ د دې لپاره چې ګټمندوی شي، د دې لپاره چې هغوی ووژني، د دې لپاره چې پلازمینه وربانديي ولړزوي، د دې لپاره چې د خبرو میز ته یې کښینوي، ؟؟؟

مګر ګټونکي هغوی دی. زیاتره ځمکه دښتي او غرونه د هغوی په ولکه کې دي، هغوی په ملیونونو او میلیاردونو پیسي پر وسلو، ټانګونو، چورلکو، ډرونز او داسي نورو باندي نه مصرفوي. بیا هم هغوی ګټونکي دي.

ولسمشر ټرمپ!

د ځواکونو مشر ته امر وکړه ترڅو په ٤٨ ساعتونو کې خپل عسکر کور ته را ستانه کړي.

او دا کار باید په یوه اونۍ کې ترسره کړي.

The Lone Biker ۱ hr ago The news from todays "Large explosion targeting Australian Embassy convoy in Kabul kills girl, wounds more than a dozen". The Taliban is an evil terrorist organization the same as ISIS, Al Qaeda and the Nazi's. The Taliban has to be killed off one by one even it takes ۲۰ more years. The United States, NATO and the rest of the world let a terrorist regime have control of a whole country which would become another North Korea at best. NATO forces leave Afghanistan and it would become

another killing field similar to Pol Pot's Cambodia where the Khmer Rouge killed more than ۱,۷ million people through work, starvation and torture. The strong of mankind have an obligation to protect and care for the oppressed.

د نن خبر دی چې وایی: یوې درنې چاودنې په کابل کې د اسټرالیا سفارت ولړزاوه، یوه ماشومه کې ووژل شوه او تر درجن زیات یې تپیان کړل، طالبان یوه ترهګره شیطاني ډله ده ، لکه داعش، القاعده، او نازي... طالبان باید یو په بل پسې ووژل شي که څه هم شل نور کلونه وربانديي تیر شي.

امریکا، ناټو او نوره نړۍ طالبانو ته وخت ورکوي چې ټول هیواد ونیسي چې دا به یوه بله شمالي کوریا شي.

آیا ناټو غواړي چې دا هیواد پریږدي ترڅو هغه یوځل بیا د مرګونو ډګر شي لکه د کمبوډیا پول پاټ چې په سره خیمیروج کې یې ۱۷ لاکه انسانان په لوږه او شکنجه ووژل. د بشري نړۍ ځواکمن خلک مسئولیت لري چې د مظلومانو ساتنه وکړي.

----- پورتنۍ تبصرې چې زیاتره یې د امریکایی حکومت د وحشتونو او جګړه ماري پالیسۍ خلاف دي؛ ځرګندوي چې امریکا اوس د ۲۰۰۱م امریکا نه ده چې هرچا یې له ویري او یا له نورو وجوهاتو ملاتړ کاوه؛ اوس ټول د هغوی د پالیسي مخالفت کوي او پر شکست یې پوره باوري دي. حتی چې خپل ولس یې هم په دې خوښ نه دی چې امریکایي واکمنان او جنرالان دي نور په افغانستان کې جګړې ته دوام ورکړي او د دوی بچیان دي پکي ژوند له لاسه ورکړي. که چیرې یې څوک پلوي کوي هغه به د ګوتو په شمېر وي. لکه د وروستي کمینټ لیکوال چې لا هم د ټرمپ د وحشتونو پلوی دی.

نو هغه وخت لیرې نه دی چې جګړه مار امریکایي جنرالان به د سره شوروي غوندي له یو تلپاتي تاریخي شکست سره نور دا د مظلومانو خاوره افغانستان پریږدي. ان شاءالله.

محلي ملیشې

د جګړې غزولو یوه بله امریکایي دسیسه

شاهد (غزنیوال)

د روان کال د حوت د میاشتې په ۱۵ نیټه د ګډ حکومت د دفاع وزارت ویاند جنرال وزیري خبر ورکړ چې دوئ د ۴۵۰۰۰ کسیز منطقوي ځواک (محلي ملیشو) جوړولو تکل لري کوم چې طرحه یې د ګډ حکومت د مشر لخوا مخکې تائید شوې او یاد وزارت یې اوس د پلي کولو په لټه کې دی.

د اشغال له لومړۍ ورځې راهیسې امریکایانو کوښښ کړی داسې طرحې او پلانونه په افغانستان کې عملي کړي چې وکولای شي له مخې یې د افغان ولس ترمنځ داخلي اختلافات او فتنو ته لاره هواره کړي.

دغه هلې ځلې په تیرو ۱۷ کلونو کې تر مختلفو عنوانونو لاندې تر سره شوې چې کله ورته د محلي پولیسو، کله د پاڅونوالو ، کله د اربکیانو او کله هم د منطقوي ځواک چې همدا اوس د امریکایانو په دستور د دفاع وزارت لخوا تر غور لاندې دی نوم ورکوي.

امریکایان غواړي د همدې محلي سر ایله ملیشو په جوړولو سره د افغانانو ترمنځ په هرکور او کلي کې دښمنۍ ، بې نظمي او ګډوډي ایجاد او له دې لارې خپل ناولي اشغال ته په افغانستان کې دوام ورکړي.

دا کار تر امریکایانو وړاندې شوروي اشغالګرو هم په افغانستان کې عملي کړی او د خلقي جبار قهرمان ، عصمت مسلم ، او کمونیست دوستم په وسیله یې قومي ملیشي جوړې کړي چې د اشغالګرو په خدمت او خپل ولس په ځوروولو کې ترټولو خطرناکې ثابتې شوې او حتی د هغوئ په وسیله روسانو وکړای شول د دوي تر وتلو وروسته د افغانانو ترمنځ کورنۍ جګړه جاري وساتي.

امریکایانو ته د ملیشه جوړولو ضرورت

امریکایانو هم د خپل اشغال په مهال لومړنۍ استفاده له همدې سرایله ملیشو څخه وکړه ، هغوئ یې په مالي او پوځي لحاظ تمویل او

تجهیز کړي او بیا یې د اسلامي امارت په خلاف د ځمکنیو ځواکونو په حیث استخدام کړي.

دغه سرایله ملیشې چې ځینې یې د کمونیستي رژیم پاتې شونې او ځینې نورې یې د تنظیمي جګړه مارو بقایا وي امریکایانو د ډیرو کمو مالي امکاناتو په عوض کې د اجرتي جنګیالو په حیث استخدام کړل.

خو کله چې امریکایانو فکر وکړ چې نور افغانستان د دوي ترواک لاندې راغی بیا یې همدا اجرتي مزدوران د جنګسالارنو، بې مسؤلیته توپکوالو او په نورو توهین آمیزنومونو سره د ډي ډي آر (بي وسلې کولو) پروګرام په وسیله خلع سلاح او له ځانه وشړل.

خو په افغانستان کې د امریکایانو خلاف د جهادي مقاومت په ځواکمن کیدو سره بیرته هغوی مجبور شول چې د دې مقاومت د ځپلو او له منځه وړلو په غرض هماغه شړل شوې ملیشې تر یوه بل نوم لاندې بیا مسلح او د طالبانو خلاف وجنګوي.

پټرایس ملیشه جوړوونکی جنرال

امریکایي جنرال ډیویډ پټرایس چې په ۲۰۰۴ کې یې د عراقي مقاومت د ځپلو لپاره په عراق کې هم د عراقي ملیشو (صحواتو) جوړولو تجربه لرله په افغانستان کې د قومي پاڅونونو تر عنوان لاندې سرایله ملیشې ایجاد او د هغو په لیکو کې یې هماغه کمونیستي بقایا او تنظیمي جګړه مار پاتي شونې راټول او د افغان مجاهد ولس خلاف وجنګول.

د اشغالګرو لخوا د دغو اجرتي ملیشو د استخدام لړۍ د ۲۰۱۲ کال په پسرلي کې د غزني ولایت له اندړو له ولسوالۍ څخه د ځینو معلوم الحاله تنظیمي ټوپکمارو مامور جبار شیلګري ، فیضان لونګ او اسد الله خالد لخوا د اندړو د قومي پاڅون په نوم پیل او د امریکایانو په تمویل او تجهیز یې د اندړو د سیمې ځینې تیر ایستل شوي ځوانان د مجاهدینو په خلاف ورکي استخدام کړل.

یاده پروژه په تدریجي ډول د غزني ولایت د مقر او په ډیر محدود شمیر کې د قره باغ ولسوالۍ ته هم ورسیدله خو د مجاهدینو لخوا یې په کلکه مخنیوی وشو چې بالاخره تر کال ۲۰۱۷ پورې هغه په اندړو ولسوالۍ کې د ۷۰۰ اربکي ملیشو په وژل کیدو سره ختمه او خپله تأسیسي اربکیانو یې د مجاهدینو په مقابل کې شکست اعلان کړ.

اوس بالفعل د قره باغ ولسوالۍ په ځینو محدودو کلیو کې څو پوستې لري چې هغه هم په محاصره حالت کې هر وخت د مجاهدینو تر بریدونو لاندې وي او د فعالیت اندازه یې بلکل صفر ده.

د ملیشه جوړولو بیا ځلي ضرورت

اوس یو ځل بیا د امریکایانو لخوا د محلي ملیشو یا په اصطلاح منطقوي ځواک د جوړولو طرحه په داسې حال کې را سربیره کیږي چې په افغانستان کې د امریکایانو ټولې پوځي ستراتیژۍ له ماتې سره مخ دي .

د ټرمپ جنګي ستراتیژۍ چې د تیر کال په اګست کې د سختو بمبارونو او خونړیو بریدونو په ترڅ کې پیل شوه هغه هم پرته له دې چې یوزیات شمیر بیدفاع ولسي وګړي یې شهیدان کړل د مجاهدینو د پوځي فعالیتونو په مخ نیوي کې بلکل ناکامه شوه.

د ټرمپ هغه هلې ځلې هم بې نتیجې شوې چې افغانستان ته یې د اضافي بهرنیو ځواکونو په خاص ډول امریکایي عسکرو د لیږلو لپاره کولې .

اوس هغوي د دوو هدفونو د ترلاسه کولو لپاره د محلي ملیشو جوړلو ته مجبور دي:

لومړی د همدې ملیشو په ایجادولو سره د خپل ګوډاګي رژیم حمایت او ساتل.

او دوهم د همدې سرایله ملیشو په جوړولو سره په فغانستان کې د نیایتي جګړې غزول.

د دې امریکایي دسیسې د شنډولو لارې چارې

تیرو تجربو ته په کتو سره ملیشې او یاهم د ولس په منځ کې د اجرتي جګړه مارانو پیداکولو او هغه بیا له خپل ولس سره جنګول د دښمن تر ټولو خطرناکه حربه او دسیسه ده.

د هغوئ د نورو ټولو جنګي ستراتیژیو د ماتولو ترڅنګ دا هم دسې یوه دسیسه ده چې د مجاهدینو لپاره یې مخنیوی او ترجوړیدو وړاندې شنډول آسانه خو لږ عملي حکیمانه هڅو ته اړتیا لري.

مجاهدین باید د خپل جهادي حکمت له مخې دا دسیسه هم داسې شنډه کړي چې ټولو هغو خلاګانو ته په کلکه متوجه وي چې د ښمن تري د مجاهدینو خلاف استفاده کوي.

مثلا مجاهدین باید په تر خپل کنټرول لاندې سیمو کې په اداري ، امنیتي ، صحي ، تعلیمي او عمراني برخو کې د ولس اړتیاوې د خپلو ممکنه امکاناتو په ترڅ کې ورپوره او د سیمه ییزو مشکلاتو په هواري کې له ولسي خلګو څخه مرسته وغواړي.

په ځینو سیمو کې د قومونو ترمنځ حقوقي او قضایي ستونزې را ولاړیږي د هغوی په حل او فصل کې د شرعي او قانوني مقرراتو په عملي کولو سره اقدام وکړي.

د مجاهدینو تر کنټرول لاندې ساحو کې باید د خیریه مؤسساتو په مرسته ښونځي ، روغتیایي مرکزونه او نور عام المنفعه پروژې عملي کړي تر څو دښمن ونه توانیږي له دې لارې د ولس په منځ کې نفوذ وکړي او خپلې تخریبي هڅې عملي کړي.

مجاهدین باید ډیر کوښښ وکړي په خپلو ساحو کې د ولسي خلګو امنیت ټینګ او څوک هم چې تر هرنامه لاندې د امنیت ګډوډولو هڅه کوي په کلکه یې مخنیوی وکړي.

ارګ د سولې او جنګ واک نه لري

حبیب مجاهد

د روان میلادي کال د فبروري میاشتې په وروستۍ نیټه په کابل کې د (کابل پروسې) تر عنوان لاندې د سیمه ییز تفاهم دوهمه غونډه جوړه شوې وه چې په کې له شلو د زیاتو هیوادونو او سازمانونو استازو ګډون کړی و.

د ارګ واکدار اشرف غني هڅه وکړه له دې غونډې څخه په استفاده د خپلې سوله ییزې ارادې نمایش وړاندې کړي نو ځکه یې له طالبانو سره د بلاقیدو و شرطه سولې او مذاکراتو ته د تیارۍ اعلان وکړ.

اشرف غني وویل: افغان حکومت طالبانو ته له کوم قید او شرط پرته د سولې وړاندیز کوي؛ که طالبان سولې ته حاضریږي، باید له بهرنیو ډلو سره اړیکې پرې، د بښځو حقوقو تامین ته ژمن او د امنیتي ځواکونو په تقویه کې مرسته وکړي. د سولې د خبرو لپاره تر ټولو غوره ځای کابل دی؛ خو که دلته ممکن نه وي په نورو هېوادونو کې هم د سولې خبرې شونې دي.

غني وویل، د سولې لپاره باید لومړی یو سیاسي چوکاټ رامنځ ته شي، چې په هغه کې د قانون په چوکاټ کې اساسي قانون تعدیلیږي، د سراسري ټاکنو لپاره باید زمینه سازي او طالبان به د یوه سیاسي ګوند په توګه وپېژندل شي.

که څه هم د اشرف غني نوي وړاندیزونه د پخوا په پرتله نرم او په دقت انتخاب شوي وو، خو د نومورې په دریځ کې دوه مهمې کمزورۍ له ورایه څرګندې وې. لومړی دا چې اشرف غني په داسې حال کې د سولې خبرې وکړې چې په همدې غونډه کې د ملي امنیت رئیس ستانکزي، د دفاع وزیر بهرامي او د ملي امنیت سلاکار د

جنګ نغاړې ډنګولې او د غونډې ګډونوالو تـه يـې ويل چې طالبان يوه ترهګره ډلـه ده، چـې د ټـولې سـيمې لپـاره خطـر دی او بايـد پـه ګـډه يـې پـه وړاندې جګړه وشي.

حنيف اتمر د کابل پروسې په کنفرانس کـې په نړيوالو غږ وکړ چې د (ترهګرۍ) سره په روانه مبـــارزه کـــې د دوی ترخنـــګ ودريـــږي، او د تروريستي شبکو د رشد مخه ونيسي. دغـه راز د ملي امنيت رئيس ستانکزي او داخله وزير برمـک بيا خپل هغه لستونه اعلان کړل چې په تيـرو څـو مياشتو کې يې د دوی په زعم څـومره طالبـان لـه منځه وړي دي.

که له يوې خوا د اشرف غني د خپلې کابينې دغـړو جګـړه مـارو څرګنـدونو د نومـوړي د سـولې شعار بې اغيزې کـړ، بـل اړخ تـه د صـلاح الـدين رباني څرګندونو ثابتـه کـړه چـې اجيـر حکومـت د طالبانو سره د سولې او مذاکراتو پـه موضـوع کـې يوه خوله نه دی. صلاح الـدين ربـاني وويـل چـې افغانستان يو ګڼ قومي هيواد دی او که د سـولې په اړه له طالبانو سره يو اړخيز مذاکرات کيـږي دا به په هيواد کـې امنيتـي بحـران نـور هـم تشـديد کړي. د صلاح الدين له خبرو پـه ښکاره معلومـه شوه چـې د ګډولـه حکومـت نيمـه نـوره برخـه (د عبدالله او عطاء ډلـه) د اشرف غنـي لـه سـوليزو خبرو او اظهاراتو سره توافق نلري.

بله دا چې اشرف غني د خپلو اوږدو خبرو په ترڅ کـې د افغانسـتان د روانـې معضـلې اسـاسي علت (د بهرنيو اشغالګرو) شتون ته هـيڅ اشـاره ونکړه. نوموړی فکر کوي چې افغانـان د موضـوع په ابعادو نه پـوهيږي او پـه دې نـه دي خـبر چـې جنګ پر څه دی؟ او افغان اولـس ولـې ټوپـک تـه لاس اوږد کړی دی.

په دې خو هر څوک پوهيږي چې د افغانستان د معضلې اساسي علت په دې هيواد کې د بهرني اشغال شتون دی. که بهرنی اشغال له هيواده ووځي د افغانانو تر منځ ډېر داسې متفقات شته چې وروسته سلا او جوړ جاړی وکړي. اما تر څو پورې چې بهرني پوځيان د افغانستان په خاوره شتون ولري او د دې هيواد ملي خپلواکي يې برمته کړي وي، اصلا امکان نلري چې په وړاندې يې د مسلح جهاد څپې ودريږي.

په دې برخه کې د اسلامي امارت موقف خورا پر ځای او منطقي دی، هغه دا چې کله ډونالډ ټرامپ د جګړې ګوابښ وکړي او ووايي چې له طالبانو سره خبرې نه کوو، په هماغه ورځ اشرف غني هم د سولې بهير معطل اعلان کړي او وايي چې مور يې په جنګ ګټو.

مګر بله ورځ چې دامريکا د بهرنيو چارو مرستياله وزيره اليس ويلز ووايي چې له طالبانو سره د سولې احتمال لا هم شته او دوی د تفاهم دريڅه ټرلې نه بولي. د امريکايانو د دې اظهاراتو په تعقيب اشرف غني هم د سولې سندرې پيل کړي او طالبانو ته نوي وړانديزونه اعلانوي.

دارګ له دې چلند څخه په څرګنده ثابتيږي چې اصلا دلته د جګړې او سولې واک د امريکايانو په لاس کې دی، هغوی دې چې په خپل راتګ يې دغه جګړه پنځولې ده او افغان اولس يې د استقلال ګټلو ته چينلنج کړی دی. امريکايان دي چې په خپلو ډالرو، رينجرو او پوځي مرستو سره جګړې ته دوام ورکوي او اصلا د کابل د مزدور رژيم ټول واک او اختيار د امريکا د سفارت په لاس کې دی.

په داسې حالت کې که له اشرف غني سره خبري کيږي، د پام وړ نتيجه به ونلري او يوازې د وخت ضياع او څو ورځې د رسنيو بوختيا به وي.

په افغانستان کې د سرتاسري سولې د راتګ لپاره اړينه ده چې د جګړې په عواملو دقيق بحث وشي. بهرنی اشغال چې د جګړې زړی دی بايد په اړه يې دا پوښتنه راپورته شي چې دوی د کوم قانون او مشروعيت له مخې راغلي او تر څو به يې زمور د هيواد په ځمکه او هوا ظالمانه قبضه پرته وي.

اشرف غني او بل هر څوک بايد په دې پوه شي چې تر څو په هيواد کې بهرنی اشغال موجود وي، جهاد به هم فرض عين وي او اولس به د خپل غصب شويو حقوقو او ازادۍ لپاره جنګيږي. د اشغال په شتون کې سوله محال او ناممکنه ده. په يو وخت کې دا وړو هڅو په تيرو اوولسو کلونو کې هم نتيجه نه ده ورکړې او نه به يې له دې وروسته ورکړي.

امریکا په ۶۰۰۰ ورځو کې څه تر لاسه کړل ؟

عبید ـ تنویر

اسوشتېډ پرېس اژانس لیکلي په افغانستان کې د امریکا د پوځي شتون او جنګي ماموریت ٦ زره ورځې بشپړې شوې، په بل تعبیر له ٦۰۰۰ زره ورځو راهیسې اشغالګرامریکایي پوځونه لاهم په افغانستان کې افغانان وژني اوربړوي یې .

امریکایانودتیرو۱۷ کلونوپه اوږدویا دتیرو شپږزوورځوپه موده کې د۴۹ هیوادونوپه پوځي ملتیا خپل ټول زوراوجبراستعمال کړد(B ۵۲) الوتکوڅخه نیولي دبمونوترمور اودفاسفورس تر ممنوعه زهرجنو موادواودډرون توغندیو پوري دا هر څه یې په مظلومو افغانانوتمرین اوو کارول؛ خو پوښتنه داده چې ایاامریکایان په دې وتوانیدل اسلامي امارت اومجاهدافغانان له خپل منطقي او برحق موقف اودریځ څخه یوه لویشت ورسته کړي؟ چې ځواب یې له کوم شک اوتردد پرته (نه) دی !!!

په دې ورستیوکې دامریکامشهوري تلویزوني شبکي (سي بي اس) په خپل راپورکې په ځغرده لیکلي ووچې له ۱۷ کلونووروسته امریکایان اوکابل رژیم له پوځي اوسیاسي پلوه (میدان بایلونکي) دي

دشبکي دتحلیل په اساس په نور افغانستان اوپاتي ولایتونو سربیره پلازمینه کابل د۲۰۱۷ کال په پاي اود۲۰۱۸ کال په شروع کې تردې حده خطرناکه اوبیم زده سیمه وه چې امریکایي عسکرو او ډیپلوماټانو اجازه اومجال نه درلود چې پر سړکونو ازاد تګ راتګ وکړي دوی نه شي کولی چې په

افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له قوماندانۍ تر هوایي ډګره په موټر کې ولاړشۍ بلکې اړ دي چې د هوا له لارې تګ راتګ وکړي

نومورې امریکایي سرچینې دخپل راپورپه ترڅ کې وئیلي : د کابل په هوایي ډګر کې یو امریکایي هلیکوپټر د (سفارت) په نوم نومول شوی د همدې هلیکوپټر په مټ امریکایان او نړیوال همکاران یې د هوایي ډګر او امریکایي قوماندانۍ ترمنځ (چې پنځه دقیقې واټن دی) تګ راتګ کوي دسی بی ایس دخبریال په خبره زه چې په کومه الوتکه کې سپور وم، دا یې ۱۰ وار و چې د امریکایي ځواکونو قوماندانۍ ته له کابل هوایي ډګره پر لاره وه.

دغه راز دکابل رژیم اجرائیوي مشر- ډاکټر عبدالله له افغانستان څخه دروسانودوتلود۲۹ تلین دلمانځلو په مراسموکې وویل : دپاتي افغانستان غمونکي امنیتي حالات په ځای پریږده دکابل ښارامنیتي وضعیت دومره خراب اوترینګلی دی چې دوئ د(ساحه سبز) په داخل کې هم په ارام قدم نه شي ایښودلای اودوئ مجبوردي چې دلوړواوکانګریتي دیوالونوویه منځ کې ووسي اویادهوا له لاري تګ اوراتګ وکړي

حقیقت دادی چې امریکاله ۶۰۰۰ ورځو تیریدوورسته اوس په افغانستان کې دشکست او ناتوانی هغه حد اود رسوایی هغې پولي ته رسیدلي، چې نه خپل ولس او نه نوري نړۍ ته ددې خبري قناعت ورکولای شي چې دکومو دکومو دلایلو له مخې په افغانستان کې خپل اشغال اویرغل ته دوام ورکوي ، ځکه د۱۷ کلونو په اوږدو کې یې ټولي ستراتیژۍ، پلانونه اودعوې یې یو په بل پسې ناکامي او کاذبي وختي!!

نوځکه اوس امریکایی رسنیواو دولس رایواونظر پوښتنوپه امریکایي جنرالانو اوسیاستوالوپسي- رااخیستي اوله مریوځخه یې رانیولي چې د۱۷ کلونوله تیریدو،دیونیم تریلیون ډالروله مصرف اودزرهاوو امریکایي عسکروله مرګ ژوبلي ورسته بیاهم ولې تاسو دافغانستان دپلازمینې په شمول په یوه وړوکي ښارګوټي ،یوه ولایت اوحتی په یوې ولسوالی کې هم امنیت تامین نه شو کړای ،دغه راز دخلکو دژوند بنیادي غوښتني مو ور پوره نکړي ، دکابل رژیم مو دنړۍ دمفسدو رژیمونو اوناامنه هیوادونو له کتارڅخه راونه ویست ، دافغانانو دفقر او بې

وزلی کچه مونوره ددربدري خواته بوتله، له افغانستان څخه په لکونو استعدادونو او په ملیونو ځوانانو بهر ته په تیښته مجبور شـــول او داســـې نور .....

مونږ بـــاور لـــرو چـــې دامریکایانو اوکابل اداري حالت له یوې نه بلې ورځې ته دمخ په زوال اوګړوبیدونکي حالت په لوري روان دی اوس لدې پرته چې افغانان په خپلومنځوکې په قومي ، سمتي ، لساني اومذهبي نفرتونواخته اولاس ګریوان کـړي اودافغانستان هرقـشر اوسمت دبې اتفاقی اوتربګنی خواته تشویق اوپه شاوټپوي بله لار اوشیطانت نده ورته پاته ، امریکایان دهمدغوتوپیرونواودرزونوپه اچولو فکرکوي چې دافغانانواذهان لدې پوښتني څخه دځه مودي لپاره واړوي چې ترڅوبه زمونږ په میږنی خاوره اوغیرتي ټاټوبي کې امریکایي عسکر خپلې ښکیلاکي ستراتیژی ، مهلکي طرحي تطبیقوي اوزهرجني وسلي اوبمونه به وووروي ؟

خوامریکایان دې پوه وي چې نورزمونږ ولس نشي. تیرایستلای د دوئ کرغیړن اهداف اوناولي حربي یوه یوه دوئ ته څرګنده اوبرالاده ، کـه امریکایان ۱۲۰۰۰ زره ورځي هم دلته پاتي شي افغانان به له همدغو ناخوالو اوکړاوونو سره لاس اوګریوان وي.

افغانان خپل نجات اوسوکالي په اسلامي نظام اوافغاني حاکمیت کې وینې اودامریکایانوپه شتون اوحضورکې نه اسلامي نظام راتلای شي اونه د افغانانو د خوښي حاکمیت .

... دیرغځلرو په شتون کې

د سولې نارې ربښتونې دي؟!

#حمزه جهاني

د کابل پروسې په عنوان دوهمه غونډه د(۲۰۱۸ز)کال د فروري په ۲۸مه نیټه کابل کې جوړه شوې وه چې په ترڅ کې یې اشرف غني طالبانوته د بې قید و شرطه سولې وړاندیزونه وکړل

هوا! دپخوا په پرتله دکابل پروسې په غونډه کې اشرف غني په خورا نرمه لهجه وینا وکړه او دنورکله پشان دطالبانو په ارتباط احساساتي نه و او هم یې ترپایه په پسته لهجه دسولې وړاندیزونه یو، یو وړاندي کړل

هغه ویل: دوی دیته حاضر دي چې طالبان دیورسمي ګونډ په توګه او پیژني ، دکابل پر ګډون دنړۍ په هر هېواد کې چې دوی (طالبان) دسولې دفتر خلاصول غواړي مخالفت به یې نکوي او هم که طالبان داساسي قانون تعدیل غواړي ورسره منلو ته تیاردي ،همدا رازنومورې طالبانو ته دیپلوماتیکو اسانتیاوو لکه پاسپورټونو ، ازادانه تګ راتګ اونورو ژمنه هم وکړه بل داخل هغه مخامخ طالبانوته په داسې حال کې دخبرو بلنه ورکړه چې پخوا به یې تل له پاکستانه غوښتل چې هغه دي طالبان ورسره سولې او خبرو کولو ته چمتو کړي

دډیرو په اند: ربښتیا هم په سطحي نظر یا لید پورتني وړاندیزونه رابښکونکي او دپام وړ دي او هم دپخوا په نسبت دکابل رژیم په دریځ کې د قوي بدلون ښکارندوې کوي همدا راز دساده خلکو دتیرایستلو په پار ښه مواد هم برابروي؛چې ګورئ ! اشرف غني دومره مره ښه سړی او دسولې غوښتونکی ولسمشر دی چې آن طالبانوته پخپله یې بې قید و شرطه د

سولې وړاندیز وکړ او دپاسپورټونو او دیپلوماتیکو اسانتیاوو ورکولو ژمنه یې هم وکړه بل دنړۍ په هرهیواد کې چې هغوی غواړي دسولې لپاره کیني دهغه دولت ورسره هم هلته ناسته کوي او په دي سربیره که په اساسي قانون کې طالبانو ته کومې مادې دشریعت خلاف ښکاري اشرف غني ورته پکې دتعدیل راوستو څراغ هم اوښود... نو طالبان بیا ددینه علاوه نور څه غواړي؟ او هغوی ولې داشرف غني دسولې پیغام نه قبلوي؟ او ورسره خبروته کیناستو اعلان نکوي؟ دا هغه جذبات یا احساسات دي چې نن سبا دهرچا په زړه کې ټوکېږي اویا په اړه یې خلک له یوبل پوښتنې او ګرویږنې هم کوي هم په عامه مجلسونو کې هم ورباندي خلک شننې او بحثونه کړي

راځو دیته چې حقیقت څه دی ؟ له شک پرته طالبانو تراوسه داشرف غني په خبرو یا وړاندیزونو کومه رسمې تبصره یا اعلامیه نده خپره کړې او نه یې دهغه وړاندیزونو ته دهو! یا نه! ځواب ورکړی دا دطالب ویندویانو پوري اړه لري چې هغوی یې په باب کله سپیناوی وکړي ؟ هرچې دي دسیاسي چارو کتونکي هغوی دطا لبانو لخوا د چوپتیا دریځ حیرانوونکی نه بولي او نه هغوی داشرف غني په وړاندیزونو کې کوم داسې دپام وړ بدلون څرک ویني چې په وجه یې هغوی طالبانوته دګرمۍ ګوته اونیسي

زما په فکر اشرف غني لخوا د وړاندیزونو هدف یا موخه دا ده چې هغه غواړي هغه طالبان چې په جنګ کې مات نشول اوس یې دمیز په سر مات کړي !! یعني داشرف غني د نرمو خبرو دیپلوماسې په نویو لومو کې د طالبانودننبلولو لپاره دنویو دامونو غوړولو مرادف ګام بریښي

بیشکه دکابل پروسې په دوهمه غونډه کې د اشرف غني له لوري طالبانو ته بې له قیدو شرطه خبرو بلنه ورکول هیڅکله ناڅاپې پلان یا طرحه نه توجیه کېږي بلکې دا بهیر شاید د میاشتو او یا کلونو دتزویري سوچونو محصول وي

او دطالبانو له لوري چوپتیا ااو لاځوابه پریښودل هم شاید یوجلا شالید ولري ولې طالب داجګړه په ډیرو قربانیوورکولو اوسني حالت ته ر سولې هغه پوهیږي چې راتلونکي ته کوم کوم اهداف لري؟ هغه جګړه دکوم افغان په ضد نده پیل کړې او نه دافغانانو سره داساسي قانون او یانورو سطحې موخو په سبب کوم جنګ روان دی څنګه چې نړیوال او رسنۍ پروپاګند کوي او طالبان داسې معرفي کوي چې ګواکي هغوی دافغانانو سره په جنګ کې ښکېل دي او بل کوم مهم سبب یا علت شتون نلري....

ښکاره ده د طالبانو هدف دامریکایانو څخه دهېوادازادې ترلاسه کول دي، له افغانستانه دامریکایانو او نورو بهرنیو پوځیانو شړل دي او هر افغان وینې نن دافغانستان ارضي تمامیت دچا په واک کې دی؟ دافغانستان فضاء څوک کنترولوي او د افغانستان دسیاسي زعامت واک یا ځواک دچا په لاسو کې دی؟ طالب د تیرو شپاړس کلو راهیسې چې څومره ستړې ناخوالې، سړې او تودې ګاللي هغه ددې لپاره چې افغانستان دامریکانو او نورو له مونګلو وژغوري، طالبانو داشغال په ضد روان جهاد کې دوسپنې نینې وچیچلې خو له خپل مسیر او هدف نه یو اینچ قدر هم په شانشول ایا نن ممکنه ده چې هغوی به په دومره اسانه د اشرف غني د نرمو خبرو ، جعلي اعلاناتو او وړاندیزونو ته تور هرکلی ووایي... هیڅکله نه...

دطالبانو او افغان ولس ګډ دریځ دادی چې څو په افغانستان کې دامریکا او نورو خارجي هېوادو عسکر شتون ولري خبرو ته کیناستل دتسلیمۍ پرته بل مفهوم یا معنی نلري

دسیاسي چارو کتونکو په نظر: اشرف غني ته اصلاً سوله اهمیت نلري او نه هغه د سولې غوښتو واک لري ځکه په لویه کې امریکا سوله نه غواړي او غني دامریکا غلام دی ، هرکله چې بادار یوڅه نه غواړي ، غلام یې که هرڅو غواړي هم کومه نتیجه به نلري ،

نوطالبان پوهیږي چې داشرف غني خبرې نه کوم اهمیت لري او نه هغه سره دسولې اختیار شته ، نوچې هرکله هغه یو بې واکه او بې اختیاره غلام دی وړاندیزونه ته یې مثبت یا منفي ځواب ویل دوخت ضایع کولو پرته بله پایله نلري په دې وجه هغوی په داسې بې معنی بحثونو کې ځانونه مصروفول ګټور نه بولي

او داهم روښانه ده چې طالب دازادۍ علمبرداران دي ایا هغوی به دخارجي عسکرو شړلو پرته شپاړس کلنه مبارزه نیمکړې پای ته ورسوي ...نه! هیڅکله به داسې او نکړي هو! جنګ داساسي قانون دتعدیل او نه تعدیل په سر هم ندی او نه جنګ په دي دی چې طالب ولې پاسپورټ نلري، بلکې جنګ داشغال پرضد دی امریکایانو زموږ وطن اشغال کړی او طالب یې دازادولو هوډ کړی او دولس دپراخ ملاتړ څخه برخمن دی ، په تیرو شپاړس کلو کې امر یکا په کراتو مراتو کوښښ وکړ چې طالب د مختلفو جعلي دسیسو ښکار او ګرځوي لالچونه ورکړي ، وي ډاروي ، مختلف جریانونه پیل کړي څو هغه دیته اړ شي چې دجهاد او مبارزې له مسیره په ګرځیدو دامریکا پوځي او سیاسي شتون او نه تنګوي خو هرځل دامریکا ټولې هیلې په ناهیلۍ بدلې شوې او طالب په هرډول ترینګلو شرایطو او تنګو شرایطو کې داشغالګرو په ضد جهاد ته دوام ورکړی ....

لنډه داده په هېواد کې اصلي ستونزه دبهرنیو عسکرو شتون دی او څو بهرنیان وتلي نه وي ترهغه دسولې وړاندیزونه واقعبینانه ندي ، که اشرف غني رښتیا سوله غواړي په اول قدم کې هغه باید دامریکا سره کړی دغلامۍ امنیتي تړون لغوه کړي او دبهرنیو پوځیانو دوتلو وړاندیز وکړي له دې پرته دسولې نارې یا وړاندیزونه اعتبار نلري او نه ورباندي څوک دوکه کول اسان کار دی همدا لامل دی چې طالبانو داشرف غني تیر ایستونکي وړاندیزونه لاځوابه پریښودل او په دي اړه په هیڅ کوم بحث کې یې ځانونه مصروف نه کړل.

د صحي مراکزو تخریبول

د جنګي جنایت په توګه

احمد مختار

په افغانستان کې د امریکایي اشغال تر سیوري لاندې ټول هغه جنګي فعالیتونه چې د نړیوالو قوانینو له مخې په جنګي جرمونو کې حسابیږي د اشغالګرو ځواکونو لخوا هغه د پوځي فعالیتونو په نوم تر سره کیږي.

دا جنګي جنایتونه د اشغالګرو لخوا د افغان ولس پر خلاف د اشغال له پیله شروع خو د ګډ حکومت تر تأسیس او له امریکایانو سره د امنیتي ټرون تر لاسلیکیدو وروسته په پراخه پیمانه زیات شوي دي.

د دغو جنایتونو له جملې څخه پرعام المنفعه ځایونو (ښونځیو، دیني مدارسو ، مساجدو) باندې د امریکایي او داخلي ګډو ځواکونو بریدونه ، د ولسي- خلګو پر کورونو بمباري او د شپنیو حملو پر مهال د ولسي خلګو وژل دي.

د جانکیري لخوا د ګډ حکومت تر جوړیدو وروسته ځکه د اشغالګرو او د هغوي د داخلي ملاتړو لخوا د غه جنایات ډیر شوي چې له امریکایانو سره د امنیتي ټرون په سند کې د ګډ حکومت لخوا په افغانستان کې د هرډول جنایتونو تر سره کولو په مقابل کې قضایي خوندیتوب ورکړل شوی دی.

که په افغانستان کې د اشغالګرو د جُرمي فعالیتونو تسلسل ته وکتل شي نو وبه لیدل شي چې لومړنی بوړنوونکې پیښه یې د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې د امریکایي ځواکونو لخوا د کندوز په ښار کې د بې سرحده ډاکټرانو د روغتون بمبارول دي چې له امله یې د دروغتون د صحي کارکوونکو په شمول ۴۲ کسان ووژل شول .

په کندوز کې د امریکایانو په تر سره شوي برید د هغوي پوځي چارواکو هم اعتراف وکړ او د هغه وخت ولسمشر بارک اوباما یې د ترسره کیدو له امله بښنه وغوښتله.

همدا راز د دې پیښې په تعقیب افغان - امریکایي ګډو ځواکونو د میدان وردګو ولایت په تنګي سیدان سیمه کې د سویدن موسسې پر یوه

اړوند روغتون باندې د برید په مهال د دې روغتون ځلور تنه زخمي ناروغان او د هغوی پایوازان ووژل.

د کندوز د بې سرحده ډاکټرانو د روغتون تر بمبار وروسته چې په نړیوالو رسیو کې یې هم پراخ انعکاس وکړ بیا په مکرر ډول عین جنایت د امریکایي او هغوی مرستندویه افغان ځواکونو لخوا د هیواد په بیلابیلو برخو کې تر سره شو چې وروستۍ بیلگه یې د پکتیکا ولایت په نکه ولسوالۍ کې د افغان امریکایي ځواکونو لخوا د درېو روغتیایي مرکزونو نړول دي.

د نکې ولسوالۍ د عیني شاهدانو په حواله امریکایانو او افغان کماندو عسکرو د یوه برید په ترڅ کې د نکې ولسوالۍ په بازار د یوه دولتي کلینک په شمول دوه شخصي کلینکونه او تر ۱۰۰ ډېر دوکانونه نړولي دي.

د سیمې د محلي خلگو په وینا د ډاکټر زکیم کلینک په سیمه کې یواځینې کلنیک و چې د ولادي او نسایي ناروغیو په علاج کې له خلگو سره مرسته کوله او هغوی ته یې طبې اسانتیاوې وړاندې کولې ..

د نکي ولسوالۍ دوکاندران وایي، چې گډو ځواکونو په یاد برید کې شاوخوا ۱۲۰ دوکانونه نړولي او د د کاندارانو نقدې پیسې او ځیني قیمتي توکي یې هم له ځانه سره وړې دي.

دا چې له ډیره وخته راهیسې د نکې ولسوالۍ واک له طالبانو سره دی نو امریکایان او دولتي ځواکونه د سیمې خلگ ټول د دوي په اصطلاح تروریستان بولي او په صحي مراکزو یې هم بریدونه کوي.

پرصحي مراکزو برید کول او یا هغه بمبارول دا معنا لري چې اصلا امریکایان په افغانستان کې د خپلو وحشیانه کړونو په مهال د هیڅ کوم قانون منلو ته ځان ژمن نه بولي .

هغوی د یوه داسې هیواد (امریکا) مربوط دی چې په ټوله نړۍ کې ځان د نړیوالو بشري قوانینو منلو او پلي کولو ته ژمن بولي او له ټولو جنگي مقرراتو څخه خبرتیا لري.

د دغو ځواکونو لخوا په ښکاره او عمدي توگه د هیواد د رسمي روغتونونو او طبي مراکزو په نښه کول او په هغو کې میشت طبي پرسونل او ناروغان وژل د ټولو بشري قوانینو او نړیوالو معیارونو خلاف عمل او جنگي جنایت بلل کیږي.

د جنیوا کنوانسیون ۳۵ ماده په وضاحت سره په جگړه کې ښکېل اړخونه پر هغه ځای له مخامخ برید کولو څخه منع کوي کوم چې د غیر پوځي، ناروغانو او یا ټپي کسانو د درملنې مرکز په توگه ثبت شوي وي.

که څه هم امریکایي چارواکي ادعا کوي چې د دوی ځواکونه افغانستان ته د قانون پلي

کولـو او یـوه قـانوني حکومـت د ملاتړ په خـاطر راغلـی خـو پـه افغانسـتان کـې عینـي واقعـات دا څرګندوي چې دا ځواکونه په ډیرو مورادو کې هـم د افغانستان داخلي قوانین او هم د بشـري حقونـو په اړه نړیوال منل شوي قوانین تر پښو لاندې کـوي چـې ژونـدی بیلګـې یـي د کنـدوز، وردګ تنګـي سـیدان او همـدا د نکـې ولسـوالۍ د روغتیـایي مرکزونو نړول دي.

د بشـري حقونـو د څارسـازمان اوهمـدا راز د ملګـرو ملتونـو د روغتیـا سـازمان د خپـل مسـلکي مسؤلیت لـه مخـې بایـد پـه افغانسـتان کـې د امریکـایي ځواکونـو لخـوا پـر روغتیـایي مراکزو د بریدونو مخنیوی وکړي .

همـدا راز یونامـا چـې وخـت پـه وخـت پـه افغانستان کې د ملکي تلفاتو په اړه خپـل رپوټونـو خپـروي بایـد پـر ملکـي تأسیسـاتو د امریکـایي او دولتي ځواکونو لخوا د پوځي بریـدونو جلـوګیري وکـړي ؛ ځکـه لیـري پرتـې سـیمې هسـې هـم لـه روغتیایي آسانتیاوو څخـه محرومـې دي کـه هلتـه شته صحي مراکز هم بمبار او یا د امریکایانو لخوا تخریب شي نور به هیڅوک هم په کلیوالـو سـیمو کې د صحي مراکزو جوړولو ته ښه نه کـړي او پـه دې سره بـه حـتما پـه یـادو سـیمو کـې د موجـودو صحي ستونزو لـه املـه د بشـري نـاورین رامنځتـه کیږي.

* * *

د اتل شهيد مولوي سعيد الله (عاجز)

ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

ليکنه: سلطان محمد (ثاقب)

شهيد مولوي سعيد الله (عاجز) د حاجي صاحب محمد حسن زوی، د محمد عالم لمسی، په (۱۳۷۱) هـ کال د ننګرهار ولايت د حصارک والسوالۍ د دواب کلي په يوه متدينه، ديندار او عزتمنده کورنۍ کې دنيا ته سترګې وغړولې.

نوموړی له ماشومتوبه ډير ځيرک او هوښيار و، په اووه (۷) کلنۍ کې يې ديني زده کړې د خپل کلي په جومات کې له خپل ملا امام څخه پيل کړې، د لا زياتو زده کړو د پاره يې ډير سفرونه هم وکړل، لومړی پاکستان ته له خپل ماما مولوي عبد العزيز (لونګ) سره مسافرشو، هلته يې د فخر المجاهدين مولوي عبد الرحمن (قانت) په مدرسه دار العلوم إسلاميه محمديه کې څه فنون او څه نور يې په نوروپه مختلفو مدارسو کې سرته ورسول.

نوموړی د زده کړې پر مهال ډير د ښو اوصافو څښتن و: مؤدب، لمونځ ګزار، صابر د ښو أخلاقو څښتن، په مطالعه او تکرار کې به يې ډير کوشش کولو، با الآخره د لوی رب ستر نعمت پرې وشو چې په (۱۳۹۲) هـ ش کال د ننګرهار ولايت له يوې مشهورې مدرسې ضياء المدارس خيرا باد څخه په ممتاز سند فارغ شو.

اسلامي امارت کې شموليت او خدمتونه:

شهيد مولوي سعيد الله (عاجز) د تعليم په زده کړه کې له جهاد او ګرمو سنګرو سره مينه درلوده له، وخت په وخت به د مدرسو په رخصتيو کې په ګروپ کې له خپلو ملګرو سره تشکيلونو ته تلو.

کله چې فارغ شو له تدريس سره سره يې په روان جهاد کې د امريکا په خلاف ښکاره قدم پورته کړو، چې په يادو لارو کې له هيڅ

قسمه سربنډ ني ځان نه دی دريغ کړی، د اخلاص همدا وجه وه، چې د اسلامي امارت په روان جهادي بهير کې په ډير کم عمری کې لاندې مختلف خدمتونه سرته ورسول:

اول: د لګی مشري.

دويم: د ولسوالۍ معاونيت.

دريم: د ديارلسو ولايتونو زندان مسؤل.

څلورم: ولسوال سرپرست.

له يادو خد متونو څخه پرته د اسلامي امارت مشرانو د ډيرو لوړو مسؤليتونو وړاندیزونه ورته وکړل، خو ده به ورته ويل: چې زه عاجز يم او د دومره د لوړو مسؤليتونو توان نه لرم.

شهيد مولوي سعيد الله (عاجز) د شخصيت په اړه:

نو موړی په ډير کم عمری کې د لوړ علمي استعداد او تجربې خاوند و، له جهادي مصروفياتو سره يې تر پنځمې درجې پورې درس وکړو، په خپل کلي کې يې د علم يو لوی مرکز (مدرسه) هم پرانيسته، په وعظ او بيان کې يې لوی تأثير پروت و، دغه راز يې د اسلامي امارت ليکوته دعامو خلکو جلب اوجذب کې لوی رول درلود.

د شهيد مولوی صاحب اصلي مشغوله د الله تعالی په لاره کې مسلح جهاد و. په ژبه به يې همېش دا خبره ډيره کوله چې ډير د فتنو دور ده، يا الله! په دغه دنيا کې مو کوم تکليفونه تير کړل، ته يې رانه قبول کړه او داخرت له شرمندګۍ نه مو وساته.

د ده نزدې ملګری سلطان محمد (ثاقب) وايي: شهيد مولوي سعيد الله (عاجز) په ربنتيا چې د زهد، تقوی، اخلاص، سخاوت، نيکو اخلاقو او ميړاني يو لوی غر وو. د اخلاص ځانګړی خصلت يې درلود، همېشه به يې په شونډو مسکا خپره وه، خپلو ملګرو او عامو مجاهدينو ته به يې داخبره ډيره کوله چې له عوامو مسلمانانو سره ډيره ګزاره کوئ.

نو موړي به دا قيصه په هرمجلس کې ډيره کوله:

يوه ښځه کونډه وه، د خپلې علاقې خان ته ورغله، چې ما سره خلک ظلم کوي، نو ای خان صاحب ما له دغو ظالمانو څخه خلاصه کړه، زه نور چاته ورشم بغير له تانه او چا ته عرض وکړم، د کونډې په دغو خبرو دخان په زړه کې غلط ګمان راغی، کله چې ما خوستن شو، خان د کونډې کور ته په غلطه اراده ور غی، دروازه يې ور وټکوله، د ننه نه کونډې اواز وکړو، څوک يې، خان غږ نه ورته کوي،

ښځه پوه شوه چې دا کس غلا ته راغلی او یا په بل نیت راغلی، کونډې د ننه څخه په ژړغونې اواز غږ وکړو، چې هرڅوک یې؟ لاړ شه او زه کونډه ښځه یم ما مه تکلیفوه، او که زه چیرته تا و پیژنم، صبا به دې زمونږ د کلي خان ته وښیم، چې تا ته داسې سزا درکړي، چې بیا د بل چا کورته د شپې لاړ نه شې، د کونډې په دې خبرو سره، بهر خان په ژړا شو، چې زما په کلي کې کونډې یتیمان زما په نامه شپې صبا کوي، او زه څه کوم.

محترم مولوي صاحب به مجاهدینو ته دا خبره کوله، چې ګورئ مجاهدینو ورنو له افغانانو سره ډیر احتیاط کوئ، هغوی له هرچا نه په هر وخت کې وګورېدل، دوی نن یوازې داسې چا ته په انتظار دي چې د اسلام تر سیوري لاندې یو داسې امن فضا ورته برابره شي چې خپل مستقبل پرې روښانه کړي او هغه نن مونږ او تاسې یو، یوائې مونږته سترګې په لار دي او بس.

یقنًا: مولوي صاحب وحدت عاجز، پاک نفس، د لوړې حوصلې خاوند، د مظلومانو کلک طرف دار، د مسلمانانو په هر درد کې شریک، مخلص، بهادر، زړه سوانده او د لوړ مورال څښتن و.

په ژوند کې به له ملګرو نه جدا کیده، ملګرو به ورته ویل: کفار درپسې هڅه کوي، لږ احتیاط کوه، د شپې لږ زمونږ څخه جدا کیږه، مولوي صاحب به ورته وویل: ستاسو خبره سهي ده، مګر زما له ملګرو نه جدا وخت نه تیریږي، او بل دا د فتنو دور ده په دغه دور کې چې شهادت مرګ راځي دا ډیره لویه د افتخار خبره ده، همدغه مینه وه، چې بالآخره له خپلو مجاهدینو ملګرو سره هریو:

(۱) سرګروپ محمد ولي غورزنګ. (۲) مولوي حقیار. (۳) صدیق الله د څلورو میاشتو تشکیلاتو مسؤل. (۴) عبد الرحمن (خوری) (۵) سردار ولي مجاهد. (۶) مولوي نیاز د إکمالاتو مسؤل. (۷) أباسین مجاهد. (۸) محبت مجاهد. (۱۳۹۲) هش کال د قوس د میاشتې (۱۵) تاریخ د پنجشنبې په ورځ مانښام (۷) بجې، د ابزنګاني په دره کې د ډرون په یوه حمله کې د شهادت لوړ مقام ته ورسیدلو او د تل لپاره یې له مونږ څخه سترکې پټې کړي. إنّا لله و انّا إلیه الراجعون.

بلې خواته په همدغه شپه د شپې (۱۱) بجې د محبس په بندیانو او په محافظین ملګرو یې نهه (۹) د ډرون حملې وشوې، چې په یاده حمله کې د بندیانو په شمول په مختلفو ځاینو کې (۲۲) تنه مجاهدین په شهادت ورسیدل. په بندیانو کې ځینې زخمیان ؤو، یو بندي ته وایي: لږ صبر شه اوس مولوی صاحب عاجز رارسیږي، هغه زړه سوانده اوس زمونږ

غم کوي، په دې سره بنديان خبريږي چې عاجز مولوي صاحب څلور ساعته مخکې ستاسونه د ډرون په حمله کې شهيد شو، بنديانو چغې کړې، عوامو خلکو به ډاډ ګيرنه ورکوله چې مه خفه کيږی که مولوی عاجز لاړو مونږ يو،

له مرګ وروسته د مولوي عاجز صاحب وصيت:

د ناصرو قوم جهادي شخصيت بادآم ګل چې د خپلې علاقې اکثر مجاهدين ورورنه ورسره بلد تيا لري، نوموړی خپل خوب تيروي او وايي: د جمعې شپې په اخيره حصه کې مولوی صاحب عاجز خوب کې وينم، د يوې لوړې بنګلې په سر ولاړ دی ماته اواز کوي چې بادام ګل کاکا پاس راوخيژه، ما ورته وويل: دغلته خو لاره نشته زه په کوم طرف در شم، مولوی صاحب راته وويل: کوشش وکړه لاره به درته پيدا شي. کله چې دده خواته ورنيږدي شوم، له ما څخه يې د حالاتو پوښتنه وکړه، په دې سره د خوراک د پاره ډوډۍ راغله، ډيرخادمان راشي، په دې کې عاجز مولوی صاحب له مونږ څخه پورته شو د قرآن کريم تلاوت يې شروع کړو، بادآم ګل وايي: زه يې دغه شاهی حالت ته حيران يم، په دې سره مې له مولوی صاحب څخه پوښتنه وکړه، الله تعالی تاسوته دغه د ومره لوی عزت په څه درکړو؟

شهيد راته وفرمايل: مونږ ته دغه دومره لوی عزت الله تعالی د قرآن کريم باندې د عمل کولو برکت دی.

زما ټولو مسلمانانو ته دا پيغام دی که په دنيا او اخرت کې خپل عزت او کاميابي غواړی له قرآن کريم څخه خپل مال او سر قربان کړی.

ددرویش مجاهد

مولوی فضل غفار غفاری ژوندلیک

مفتی محمد گل سعید

دافغانستان تاریخ لـه جهادي حماسو اوتاریخي مبارزوڅخه جوړدی. دې هیواد کې دنا ټواوامریکایي یرغلګرولـه شکست سره پـه نړیوالـه سطحه دې هیواد تـه دامپراطوریو قبرستان لقب ورکړل شوی دی. هغه امریکایان چې دوی د اسلامي امارت ړنګول اود طالبانو نظام لـه منځه وړل یو معمولي غوندې کارګانـه اوس ورڅخه لـه دې خاورې نـه دوتلولاره ورکـه ده. پـه زرګونـو یې عسکر دلته هلاک شوي دي اوهم یې اقتصاد ته قوي ضربه ورسیده اوهم یې نړۍ کې حیثیت لـه صفر سره برابر دی. الحمدلله دا سلسلـه لاروانـه ده. دلتـه دیواتل درویش غازي اوملنګ مجاهد سوانح راوړم.

مولوی فضل غفار غفاري

اتل غازي اودرویش مجاهد مولوی فضل غفار غفاري دصوفي شیر محمد زوی د محمد ولي لمسی دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ د کلمان درې په یوه دین دوسته اومجاهد پروره کورنۍ کې زیږیدلی دی. څرنګه چې د نومورې تبر کوچیان کډوال ؤو په دوبي بـه د مهترلام پـه ګلارام کې میشت ؤو چېرته چې د دوئ قوم آباد او د دوی هم خپلې پلرنۍ ځمکې هلتـه شتـه اوپـه ژمي بـه بیا دعلینګار په کلمان کې هستوګن ؤو چېرته چې د دوئ د ساړه ژمي تبره ولو مینـه وه. ده پـه ۱۳۵۱ المریز کال هغه مهال دې ستړې دنیا تـه ستړګې وغړولې چې د ژمي پر مېنـه یې تبر اړولي ؤو چې کله پـه ښـه او بد پوه شو دی هم لکـه د کلي نور هلکان د خپل مال پـه څرولو اوشپني بوخت شو، خو لکـه څرنګـه چې پښتانه وایي (اروایې ګټه کړې وه) د خپلې کورنۍ لـه مشورې پرته یې د شپني لرګی غورځولی ؤو او پـه پټـه د دیني علم د زده کړې پـه لټه پسې تللی ؤو.

ابتدایی زده کړې یې له خپل تره ملا محمد عمر څخه وکړې. فنون یې له شیخ الحدیث مولوی عبدالغني حقاني دلوګر، شیخ الحدیث مولوی محمد یوسف صدیقي دننګرهار، شیخ الحدیث مفتی محمد سلیم حقاني دلغمان، شیخ الحدیث مولوی مصباح الله هزاروي، مولوی سعدالحق صاحب، شیخ الحدیث مولوی ضیاء الحق دموسهي، دمعقولاتو جامع عالم مرحوم مولانا سید قریش بابا نورالله مرقده، شیخ الحدیث مولوی شهاب الدین دلاوردلوګر او شیخ الحدیث مولانا فخرالاسلام دچارسدې څخه ولوستل. موقوف علیه کتابونه یې له شیخ الحدیث عنایت الله برهاني څخه په (۲۰۰۱) میلادي کال کې دپیښور د پهندو په روضة الاسلام مدرسه کې ولوستل، اولویه دوره یې د پیښور په صدر کې له شهید شیخ الحدیث مولانا محمد حسن جان، شیخ الحدیث مرحوم قاضي صاحب محمد امین یارحسیني، شیخ الحدیث الطاف الرحمن بنوي او شیخ الحدیث سعید الله شاه صاحب څخه وکړه. په (۲۰۰۲) میلادي کال فارغ شو او د فضیلت پګړۍ یې وترله. له فراغت نه وروسته یې تدریس پیل کړ او دوه کاله یې د شهید شیخ الحدیث مولوی غلام حضرت په مدرسه دارالاحناف کې یې له هغه سره یوځای تدریس وکړ. په دې اثناء کې یې د قرآن عظیم الشان حفظ هم وکړ او په همدې مدرسه کې یې دستاربندي وکړه. بیاله پیښور نه مانسهرې ته لاړ او هلته یې دخاکي کیمپ په دارالعلوم محمدیه کې څلور کاله په زړه پورې تدریس وکړ. هرکال به یې دروژې په مبارکه میاشت کې د قران عظیم الشان د تفسیر او ترجمې تدریس کاوه او زیاتو خلکو به ترینه استفاده کوله. نومورې د ظاهري علومو ترڅنګ په تصوف کې هم لوی لاس درلود، په ابتدا کې یې د باړې له پیر صاحب مرحوم اخندزاده پیر سیف الرحمن رحمه الله نه بیعت کړی ؤ او دهغه خلیفه ؤ، د هغه له مړینې نه وروسته یې د شیخ الحدیث حضرت مولانا خلیفه دین محمد صاحب دامت برکاتهم العالیة لاس نیوی وکړ او دهغه نه یې استفاضه کوله.

د صلیبیانو پر ضد جهاد او مبارزه

د (۱۳۸۰) لمریز کال د میزان په (۱۵) مه کله چې یرغلګر وصلیبیانو د وحشي امریکا یانو په مشرۍ زمونږ په ګران هیواد افغانستان باندې ناوړه تجاوز وکړ. شهید مولوی صاحب فضل غفار دیوه تکړه مجاهد په حیث هر کال د جهاد او مبارزې ډګر ته ځان رساوه. د خپل پلرني ټاټوبي لغمان ولایت ته به لاړ او هلته به یې خپل ملګري منظم کړل او هر وخت به یې په دښمن عملیات ترسره کول. د نومورې دښو او صافو او خصوصیاتو په نظر سره نیولو له امله د لغمان ولایت مجاهدینو په ده باندې زیات اعتماد

کـاوه، اودی یـې دلغمـان ولایـت ددعـوت وارشـاد عمومي مسـئول وګمـاره. ده پـه لغمـان ولایـت کـې دعاموخلکواومجاهـدینوترمینځ ډیرښه روابط جوړکړي ؤاوعام خلک یې په ډیره نرمه لهجه اوخوږه ژبه دطالبانوله اسلامي امارت سره یوځـای کـړي ؤ،همداوجـه ده چـې دلغمـان ولایـت دعلینګارولسـوالۍ زیـاتره عـام وګړي دطالبانوسره یوځای دي اوزیـات کلي اوسیمې دطالبانوپه لاس کې دي .

ځانګړتیاوې

الله تعـالی ده جنـاب تـه ډیرښـه صـفات ورکړي وو،چاچې لیـدلی ؤاویـایې ورسره تعلق ؤنویقیناچې هغوی په هم دده په دې ټولوصفاتو باندې اعتـراف کوي.یوځوصفات یـې اجمالاً په لاندې ټکوکې راټولوم:

۱ــ صبراواستقامت
۲ــ تقوی اوحلم.
۳ــ سخاوت اومیلمه پالنه
۴ــ شجاعت اوبهادري
۵ــ لـه هرچاسره پـه ورین تندي مخـامخ کیدل
۶ــ همیشـه لـه اختلافاتوځخـه ډډه کـول اوملګرواته په دې اړوند توصیه کول.
۷ــ همیشه په حق باندې قایم پاتې کیدل.
۸ــ عاجزي اوانکسار
۹ــ بې ساری محبوبیت اومقبولیت.
۱۰ــ خوږه ژبه اونرمه لهجه یې درلوده چې دهرچاسره به مخامخ شونوپه تبسم اوخندابه یې ورسره روغبړ کاوه.
۱۱ــ تهجدلمونځ کله هم نه پریښوده .

شـهید مولوی فضـل غفارغفـاري پـه دې سربیره چې متبحرعـالم ؤ،دمجاهدینولپاره یې دیوښه لارښود حیثیت درلود .ده بـه همیشـه لـه مجاهدینوسره لیدل ،هغوی ته بـه یې توصیې کولې اودخپل توان په اندازه یې ورسره دخیرپـه چـاروکې همکـاري کولـه.ده پخپـل ژونـد کې د تـدریس اوجهاد ترڅنګ دعـامو مسـلمانانو تنازعات هم حل کول اوحتی دقومونوپه سطحه به یې شخړې هوارولې.

دنومـوړي اسـتاذ جیدعالم شـیخ الحـدیث مولـوی محمدسـلیم حقـاني وایـي: الله تعـالی ځینـی وخـت داسـی کسـان پیـدا کړي چـی الله تعـالی ترینـه لـږ وخـت کـې ډیـر کـار واخلـي د طفولیـت ځخـه یـی جـامع الکمـالات وګرځـوي اودظاهري علم ترڅنګ یې له باطني علم نه هم برخمن کړي ،خـو د داسې شخصیت هلتـه نورو خلکـو تـه احسـاس وشي چې کله دا د الله تعالی بااسـتعداده بنـده د خپـل رب سـره د لقـاء لپـاره دارالبقـاء پـر لـور روان لاړشي. یـو هـم د داسې اشخاصـو ځخـه مولـوی فضـل غفـار غفـاری وه ځوک چې د نـوراني چهرې خاونـد ،د اخـلاص او ادب پیکر، د صداقت او د سپیڅلتیا دنګ منار

ؤ ، مولـوی صـیب زماسـره ډیروخـت تیرکـړی ؤاوزیات کتابونه یې راڅخه لوستلي ؤ. د طالبی پـه زمانـه کـې هـم انتهـائي بـا ادبـه ، ذهـین اوتقواداره انسا ن ؤ.د طالبی په زمانه کی یی هم تهجد لمونځ نه قضاء کاوه. د فراغت نه وروسته له ما سره د حضر او سفر ملګری شو خو کله یې هم د تهجد لمونځ نـه پریښود. همیشـه بـه یـی ژبـه پرذکر لمده وه.

کله چی پر ګران هیواد افغانستان باندی صلیبیانو یرغل وکړ نو مولوی صیب به هروخت لـه ماسره مشورې کـولې چـی څنګـه بایـد د یـر غلګرو خلاف جهاد شروع شي. الله تعالی اسباب برابر کړل او په لغمـان کـې مـو دلګی فعالـه کړه چی د دې دلګی جوړولـو لـوی باعث هم مولوی صیب وه .مولوی صیب سره له دې چی د هجرت په دیار کی په تدریس مشغول ؤ ،پـه رخصـتیو کې څوځله د اسلامی امارت د دعوت اوارشاد د کمیسون لخوا د پلاوي په حیث یی لغمـان تـه سفرونه وکړل چی ډیرې ښې نتیجې یې لاس تـه راوړلې.نومـوړي د عوامـو پـه مینځ کـی زیـات محبوبیت درلـود او د یـو روحـانی شخصیت پـه ځیروه. داچې په لغمـان کـې د پخوانې ټوپـک سالار حضرت علی نفوذ زیات وه او ځینې قومونه د اسلامی امارت سره له پخوانه ضدؤ،نو مولـوی صیب بـه درمضـان المبـارک پـه میاشـت کـې د قران تفسیر پـه هغـو کلیـو کـی شروع کړاوټول هغه قومونه چې د اسلامی امارت سره ضدؤدده پـه برکـت بـه داسـلامي امـارت سـره موافـق وګرځیدل ،بلکه د اسلامی امارت مجاهدین به ترینه جوړ شول.چی ښه مثال یی دلغمـان د کشـر ډکـه د سیمې قومونـه دي . ځرنګـه چـې مولـوی صیب تـه زمونږ د دلګی د مجاهدینو مشري پـه غـاړه وه نواسـلامی امـارت د مولـوی صـیب محبوبیـت تـه پـه کتلـو سره د لغمـان ولایـت د دعـوت ارشـاد او جلـب وجـذب مسـؤلیت هـم وروسپاره .ځرنګه چی مولوی تـه الله تعالی ډیر لوړاستعداد او پوه ورکړې وه نو پـه ډیـر لږ وخت کـی یـی د ټـول لغمـان مـدیران وټاکـل او نظـم کاریې پیل کړ. د امربالمعروف ځانګه یې فعاله کـړه .د علمـاؤ شـوراګانی یـی جـوړی کـړې . د قومونـواو د مکـا تبـو د مشـرانو سـره یـی ګډې ناسـتې وکـړې او د ټـول لغمـان لپـاره یـی یـو مدیریت جوړ کړ چی د دعوت و ارشاد میاشـتنې اودرې میاشـتنې راپورونـه یـې لـه هغـه ځـای نـه دمشـرتابه مقـام تـه رالیږل .لـه همـدې امله د لغمان ولایت د دعوت و ارشاد کمیسـون پـه دوه ویشـتو ولایـاتو کـې اول یـا دوهم مقـام ترلاسـه کـړی ؤ. مولـوی صـیب یـو مخلـص او ادب نـاک انسان وه له همدی امله د دې مسـولیت سره سره دد لګی د مجاهدینو مسـولیت هم ورپـه غـاړه ؤ، چـی ټولو مجاهـدینو پـه ډیـرې خوشـحالی د مولوی صیب امارت ومانه.داچې مولوی صیب ډیـرحلیم انسـان وه نولـه همـدې امله لـه

هرمجاهدسره یی د خپل ملګري او ورور په حیث چلند کاوه . کله به چې مجاهدینو په کومه سیمه کې له عوامو سره ناسم چلند وکړ هغوی به ماته شکایت وکړ ما به مولوی صیب ته ولیږل مولوی صیب به یې مشکل حل اوفصل کړل .له یو کس سره مجاهدینو ناسم چلند کړی وه هغه ما ته شکایت وکړ ما هغه مولوی صیب ته ولیږه مولوی صیب ورته خپله غاړه کږه کړې وه اوورته یې ویلي ؤچې که تا سره یې ظلم کړی وي نو ته یې له ما نه کسات واخله. هغه کس ما ته تلیفون وکړ اود مولوی صیب د اخلاقو نه دومره متاثره شوی وه چې له ډیرې خوشحالۍ نه یې وژړل .نوموړی یو متوکل انسان وه ،د طالبی له وخت نه یې د توکل ډیرې قیصې مشهورې دي .زیاتره وخت به د مجاهدینو د خدمت له املې قرضداری وه یو ځل یې ما ته وویل چې دومره روپۍ راسره نشته چې خپل موټرسایک ته پرې تیل واچوم او پرون مې د موټرسایکل تیل په قرض واچول .لنډه داچې مولوی صیب د تقوی او سپیڅلتیا یو منار وه .هغه یوځیرک،هوښیار د تقوی او بزرګۍ نمونه ، د حضراو د سفر د

دجهادی یون ملګری او زما پیر صیب ،ما به د تقوی او بزرګۍ له املې پیر صیب او بزرګ مولوی صیب بالله. الله تعالی دې دده شهادت قبول کړي اواله العالمین دې درجات عالیه ورپه برخه کړي.

شهادت

داچې شهید مولوی صاحب فضل غفاردلغمان ولایت په سطحه لوی داعي او دجهاد مخکښ بلل کیده، نوځکه امریکایانوهم داهڅه کوله چې په هرقیمت وي نوموړی له منځه

یوسي. هماغه ؤچې د کال (۲۰۱۸) د جنوري دمیاشتې په (۲۷) نیټه (مطابق ۱۰/۵/۱۴۳۹) دهفتې په شپه امریکایان په دې وتوانیدل چې دنومورې موقعیت معلوم کړي، نو دشپې په اخري برخه کې یې دیوې چاپې په ترڅ کې په شهادت ورساوه. دنومورې وروڼه اود کور وګړي یې وایی: چې د تهجد لمانځه وخت ؤمولوی صاحب تهجد لمونځ ادا کړ اوپه تلاوت بوخت ؤ، چې په دې وخت کې یې کور دصلیبیانو لخوا محاصره شو، ده خپلو ماشومانو ته وویل چې تاسو بهر ته لاړشئ. اوما ورسره پریږدئ، هغوی بهر ووتل اومولوی صاحب له خپل کلاشینکوف اواسلحې سره ورته مجهز پاتې شو.

امریکایانو اوملګرویې پرې غږ وکړ چې تسلیم شه اوخپل کوراوماشومانو ته دې زیان مه اړوه. مولوی صاحب ورسره مقاومت شروع کړاوهغوی ته یې مالي اوجاني زیان ورواړاوه. دوی پوهه شول چې نه تسلیم کیږي نویې چورلکې راوغوښتې اودیوڅه وخت جګړې نه وروسته یې دمولوی صاحب په کوربمبار وکړ. اتل مجاهد اوصوفي غازي مولوی صاحب فضل غفار یې دشهادت لوړمقام ته ورساوه اوکور یې ورته له خاوروسره برابر کړ. په دې ډول دلغمان ولایت په یوه لرې غرنی سیمه کې هغه ګمنام مجاهد له متعهدانه ژوند تیرولووروسته درب تعالی لقاء ته ورغی چې خپل ټول ژوند یې داسلام د دفاع اوسرلوړی لپاره وقف کړی ؤ، هغه مجاهد چې ژوند یې له علم، جهاد، ذکراوتقوی څخه جوړؤ.

په جنازه کې یې دومره زیات شمیر علماء، طلباء، مجاهدین اوعوام راټول شوي ؤ، چې شاید له دې مخکې یې په لغمان ولایت کې ساری نه وي ترستر ګوشوی. د جنازې لمونځ یې د ده شاګرد اود تره زوی مولوی شیراغا په امامت ادا کړای شو اودلغمان ولایت د مرکزاړوند په ګلارام دره کې پخپله پلرنی هدیره کې خاوروته وسپارل شو. دیادونې وړ دی چې نومورې ترپایه پورې خپل شخصي کورنه درلوده اوپه پردي کور کې دهمسایه په حیث یې د ژوند شپې ورځې تیرولې. په دې وخت کې هم دعلینګار ولسوالی په کشرد ګاه کلي کې اوسیده اوهملته په شهادت ورسید.

کورنی

شهید مولوی فضل غفار غفاري تقبله الله اووه زامن اودوه لونې ترشا پریښودل. مشران دواړه زامن یې د قران عظیم الشان حافظان اوددیني علوموزده کوونکي دي.

روح دې شاد اویادیې تل اولاره دې له لارویانو ډکه وي

واک او دنده غوښتل

د اسلام له نظره!!



ليکنه: ابن الشهـــيد ازره وال

لومړی ددې خبرې يادونه کـــوو چـــې واک،دنـــده،امارت او خلافت يو مسؤليت دی داد هيڅا حق نه دی،

داسلامي لارښو ونو له نظره دنده وړه وي که لويه يو مسؤليت دی د اسې حق نه دی چې دهغې دترلاسه کولو لپاره دې ځوک په پراخه پيمانه هلې ځلې وکړي چې ځرنګه واک او دندې ته ورسېږي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

الامـــام راعٍ ومســـؤل عـــن رعيّتـه (صحيح البخاري، کتاب الجمعه حديث: ۸۹۲)

مشر ځارونکی دی، او کومه دنده چې ورسپارل شوې دهغې پوښتنه به ورڅخه کيږي.

لـــه دې حـــديث څخـــه دامعلومه شوه چې واک او دنده دې داسې مسؤليت وګڼل شي چې تر خپله وسه تړې ځان ساتل غوره دي، مګر که چيرته دکومې اړتيا له کبله چاته ور وسپارل شي؛ نو بيادې يو امانت او مسؤليت وګڼي او په سهي توګه دې سرته ورسوي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم نه يو وار حضرت ابوذر رضي الله عنـــه ديـــوې دنـــدې دورسپارلو غوښتنه وکړه،رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

ياأباذر! انک ضعيف، انها امانـة،وانها ويـوم القيامـة خـزْيٌ وندامة، الامن اخذها بحقها وادّى الذي عليه فيها. (صحيح مسلم، باب کراهة الامانة، حديث۴۶۸۲)

ژبـــاړه: اې ابـــوذره! تـــه کمـــزوری يـــې، او دا (دنـــده او حکومت) يوامانت دی، او قيامت په ورځ رسوا يـي او پښېماني ده، مګر که ځوک دا امانت په سهي او حقه لار واخلي، او خپل مسؤليت په سهي توګه اداکړي.

د سنن ابـو داؤد پـه روايـت کې نبی عليه السلام حضرت ابوذر رضي الله عنه ته وايې اې ابـوذره! تـه ماتـه کمـزوری ښکارې او زه ستا لپاره هغه څه خوښوم کوم چې د ځان لپاره خوښوم کله هم پـــه دوه انســـانانو امـــير مـــه جوړېږه ...

دغسې جـامع الاصـول پـه حوالـه دصـحيح البخـاري (کتـاب

الاحكام باب مايكره من حرص الامارة) حديث ۷۱۴۸

له ابو هريره رضي الله عنه نه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

انّکم ستحرصون على الامارة وستكون ندامة يوم القيامة فنعم الرضعة وبئست الفاطمة.

ژباړه: بېشکه تاسو دچوکۍ ترلاسه کولو کوښښ کوئ او دابه دقيامت په ورځ ستاسو دپښېمانۍ لامل وګرځي؛ ځکه چې دشېدو ورکوونکې ډېره ښکه وي له شېدو جلا کوونکې څخه.

همدا لامل و چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مقدام بن معديکرب رضي الله عنه ته پر اوره لاس کېښود او ورته يې وويل: افلحت ياقديم ان متّ ولم تكن اميرا ولاكاتباً ولاعريفاً (سنن ابوداؤد كتاب الخراج حديث ۲۹۳۳) ومسند احمد حديث ۱۷۲۰۵

اې قديمه! که پرتا په داسې حالت کې مرګ راشي چې نه دې امارت کړی وي اونه دحکومت کاتب يې اونه دې هم دقوم نمايندګي کړې وي؛ نو بېشکه ته کامياب يې.

(واک او دنده غوښتل ناروا ده!)

واک او دنده غوښتل داسلامي لار ښو ونو له نظره ناروا ده ؛

ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم عبد الرحمن بن سمرة رضي الله عنه ته وويل:

لاتسأل الامارة فانک أن اوتيتها عن مسألة وُكلت اليها وأن اوتيتها من غير مسألة اعنت عليها. (صحيح البخاري كتاب الايمان حديث ٦٦٢٢

ژباړه: دامارت غوښتنه مه کوه؛که تاته ستا پر غوښتنه واک درکړل شي؛ نو تا پخپله ځان ورته حواله کړ، او که ستاله غوښتنې پرته درکړل شي؛ نو الله جل جلاله به دې مرسته وکړي.

له دې حديث څخه داخبره څرګنده شوه چې که څوک دمنصب او دندې ترلاسه کولو هڅه کوي، او د دې لپاره خلکوته سپارښتنې کوي؛ نو ګواکې ده ته دالله جل جلاله لخوا داسې ويل کيږي: چې ته پوهيږي دنده او وظيفه دې پوهيږي ، زما لخوا به درسره هيڅ ډول مرسته او امداد نه کيږي؛ نو که څوک په دې باوري وي چې دالله جل جلاله له مرستې پرته هيڅ شی نه کيږي، هغه به هيڅکله هم دواک غوښتنه ونه کړي.

ابوموسى اشعري رضي الله عنه وايي چې زما دقبيلې دوو تنو له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ديوې حکومتي چوکۍ او دندې غوښتنه وکړه؛ نوهغه ورته وويل:

"انالا نولي هذا من سأله ولامن حرص عليه "(صحيح البخاري، كتاب الاحكام حديث۱۳۲۳)(وسنن ابي داؤدكتاب الاقضية حديث ۳۵۷۸)

مورپه دې کار هغه څوک نه ټاګو چې غوښتونکی يې وي، او يا ددندې او چوکۍ حرص کوي.

له پورتنی حديث څخه دا په ډاګه شوه، چې امارت غوښتنه ناروا ده، او څوک يې چې خپله غوښتنه کوي هغه په حقيقت کې ددې اهل نه وي.

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

"تجدون من خير الناس اشدالناس کراهية لهذا الشأن حتى يقع فيه ".

(صحيح البخاري کتاب المنافق حديث ٣٤٩٦)

تاسو به دخلکو غوره کسان ووينئ چې داخبره (دامارت غوښتنه) ډېره بده ګڼي خو په دې کې به راګېر شي.

له همدې املـه بـه راشدينوخلفاوو، له دندې ډډه او سخته وېره کوله هيڅکله يې نه غوښتل چې په کومه دنده او چوکۍ دې وګومارل شي.

دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه دا وينا ډېره مشهوره ده چې ويل به يې:

لومات جمل ضعيفاعلى شطّ الفرات لخشيت ان يسألني الله عنه. (طبقات ابن سعد، ذکر استخلاف عمر ټوک ٣ /٢٨٤)

که دفرات دسند په غاړه هم کوم اوښ مړشي، نو زه وېريږم چې الله تعالى به دهغه پوښتنه هم له ماڅخه کوي .

دغه راز دنومورې له شهادت نه لږ مخکې يو کس ورته وړانديز وکړ، چې له ځان څخه روسته دې خپل زوی عبدالله ځای ناستی وټاکه، پر دې خبره حضرت عمر رضي الله عنه ناخوښي څرګنده کړه، او وې ويل:

بحسب آل عمر ان يحاسب منهم رجل واحد ويُسأل عن امة محمد لقد جهدت نفسي وحرمت اهلي وان نجوت کفافا لا وزر ولا أجر، اني لسعيد. (تاريخ طبري)

دعمر په کورنۍ کې يوازې دا بس ده چې له يوه تن سره حساب وشي، او دمحمد صلى الله عليه وسلم دامت په اړه ورڅخه پوښتنې وشي، زه خپل ځان دې سختۍ ته ور اچوم، او ما دا دخپل کور لپاره حرام کړی دی،او که زه برابر په برابر خلاص شم چې نه ګناه وي او نه ثواب؛ نو زه به خپل ځان ډېر خوش نصيبه وګڼم.

خو نن په اسلامي ټولنه کې هم دجمهوريت او ديمکراسۍ غوندې واک او دنده يو حق او شخصي ګټه ګڼل کيږي، څوک چې په کومه دنده او ظيفه وګومارل شي هغه غوره شخصيت بلل کيږي او ځان هم ورته تر هرچا لوړ او اهل ښکاري او که چاته کومه دنده ور ونه سپارل شي هغه بيا په ټولنه کې محروم، نا اهله او کمزورى ګڼل کيږي .

يو مسؤل هم دېته نه دى تيار چې له دندې دې ګوښه کړى شي مګر که له دې ستره او لويه دنده ور وسپارل شې؛ خو که اسلامي لارښود ونو ته ځير شو بايد هغه څوک چې له دندې ګوښه شوى وي دګوښه کونکي شکريه ادا او احسان يې پر ځان ومنې؛ ځکه ته يې له يو داسې مسؤليت څخه خلاص کړې چې شايد تا پکې دالله جل جلاله او دهغه مخلوق حقوق ضايعه کړي واى او دقيامت په دمجرمانو او خائنانو په صف کې ودرول شوى واى

قرآن او حديث انسان ته تر ټولو لومړى دا ګوت ځنډنه کوي چې دادې شخصي حق او ګټه نه بولي دا ګلانو لاره نده دا د

اغزیو بستره ده خو ځینې علماء د دندې غوښتنې دجواز لپاره دیوسف علیه السلام هغه غوښتنه داستدلال په توګه وړاندې کوي کومه یې چې دمصر له پاچا څخه کړې وه او قران یې داسې نقل کوي (قال اجعلني علی خزائن الارض اني حفیظ علیم) (سورة یوسف آیة ۵۵)

ژباړه: یوسف وویل: ښه نو ما دځمکې په خزانو وټاکه، زه ډېر پوه ساتونکی یم.

او وایي چې یوسف علیه السلام نه یوازې دچوکۍ او دندې غوښتنه کړې ده بلکې هغه دخپل اهلیت صفات هم بیان کړي دي .

خو د دوی دا استدلال له دوو وجهو سهي نه ده،

لومړی: دمصر پاچا له مخکې نه دا فیصله کړې وه چې یوسف علیه السلام ته به یوه دنده ورسپاري، چې په دې اړه قرأن کریم تر دې دمخه ایت کې داسې بیان شوی دی: وَقال الملكُ ائتوني به استخلصهُ بنفسي فلمّاكلمهُ قالَ انّكَ ألیومَ لدینامكینٌ امینٌ (سورة یوسف آیة ۵۴)

ژباړه: او پاچا وویل: هغه را ولئ چې خپل ځان سره یې وټاکم؛ نو بیا چې ورسره غږېدلو؛ نو ورته ویې ویل نن ته مورِ سره د ډاډ وړ قدرمن یې.

یوسف علیه السلام ته پاچا دده په غوښتنه چوکۍ او دنده نه ده ورکړې، دا پرېکړه پاچا پخپله کړې وه، یوسف علیه السلام ته داخبره په ډاګه شوه چې پاچا به هرومرو کومه دنده درسپاري، خو کومه دنده او کوم کار به ورسپاري په دې وخت کې یوسف علیه السلام وویل چې اوس تاسو پرېکړه کړې چې ماته دنده راسپارئ؛ نو ماته دځمکې دخزانو دنده راوسپارئ.

داسې نه و چې له زندان څخه یې دواک او دندې دغوښتلو وړاندیز کړی و او یایې چاته سپارښتنه کړې وه چې ماته هم کومه دنده را وسپارئ، نوله دې دواک او دندې د غوښتنې هیڅ جواز نه پیدا کیږي.

دویم: مخکې مو چې داخبره واضحه کړه چې دواک او دندې غوښتنه ناروا ده، دا دشریعت اصل حکم ده؛ خو له دې څخه ځینې حالتونه مستثنی دي لکه کله داسې حالت رامنځته شي چې په هغې کې په بدیهي توګه انسان ته معلومه شي چې که زه ددې دندې غوښتنه ونګړم، نودابه نا اهله اود داسې خلکو لاس ته ولویږي چې دخلکو حقوق به تر پښو لاندې کړي، او په ټولنه کې به دیتیم او مظلوم غم خور پاتې نشي پر خلکو به دبې دینۍ دروازې راخلاصې کړي، نو دداسې اړتیا پر وخت که دکومې دندې غوښتنه وشي پروا نه لري؛ خو په دې شرط چې موخه به یې یوازې په ټولنه کې اصلاح راوستل او ظلم خیانت او بې دینۍ ته دپای ټکۍ کېښودل وي.

دغه دریځ قاضي ابو یعلی حنبلي رحمه الله په خپل کتاب "السیاسة الشرعیة "کې غوره او راجح ګرځولی همدغه راز مولانا ظفر احمد عثماني هم پخپل کتاب "اعلاء السنن "کې دېته ترجیح ورکړې او پر دې موضوع کتاب" اسلام او سیاسي اندونه "کې مولانا تقي عثماني مفصل بیان کړی.



د فراه او تخار

ملاماتوونکي جهادي ګوزارونه

معین احمد (معین)

سره له دې چې امریکایانو د اته میاشتنۍ جنګي ستراتیژي په ترڅ کې پر طالبانو او د هغوي تر واک لاندې سیمو باندې دومره ډیرې بمباري وکړې چې له پوځي نقطه نظره باید اوس په یادو سیمو کې طالبانو هیڅ فزیکي شتون نه درلودلای، خودا چې د هغه باوجود لیدل کیږي چې په عین همدې بمبار شویو سیمو کې د طالبانو پوځي فعالیت او عسکري سوقیاتو شدت موندلی او امریکایي او د هغوي ملاتړو داخلي ځواکونو ته یې ملا ماتوونکي ګوزارونه ورکړي دا له دې پرته چې له مجاهدینو سره د الله تعالی د نصرت ښکاره نښې وښلل شي بله هیڅ توجیه نه لري.

مونږ غواړو دښمن په خلاف د مجاهدینو د پوځي فعالیت دوې وروستۍ بریالۍ پېښې د نمونې په حیث دلته یادي کړو:

لومړی پیښه د هیواد په جنوب غرب حوزه د فراه په ولایت کې رامنځته شوه چې دښمن یې په پوځي او تبلیغاتي لحاظ له سختې وارخطایي او فضیحت سره مخ کړ، داسې فضیحت چې د دښمن د دفاع وزارت ویاند چې په دروغ ویلو او سپین سترګې کې ساری نه لري ونه توانیده چې حاضر شي او په فراه کې د خپلو وژل شویو افرادو په اړه د تلویزوني شبکو او نورو خبري رسنیو پوښتنوته ځواب ووایي.

په هغه بریالیو بریدونو کې چې د منصوري عملیاتو په ترڅ کې د فراه ولایت د فرارود ولسوالۍ په تپه سادات او خواوشا سیمو کې د رژیم په کوماندویي ځواکونو تر سره شول کم تر کمه ۵۳ تنه مزدور پوځیان مړه او ژوبل او زیات شمیر وسلې او پوځي مهمات یې د مجاهدینو لخوا غنیمت شول.

په یادو بریالیو عملیاتو کې د رژیم د ماتې خوړلو ځواکونو پوځي شوبلې او ګڼ شمیر نقلیه وسائط هم تخریب شوی چې د هغوی د وژل شویو عسکرو له جسدونو سره یوځای د جګړې په ډګر کې پاتې دي.

همدا راز د فراه تر بریالي برید دوې ورځې وړاندې مجاهدینو وکړای شول د تخار ولایت خواجه غار ولسوالۍ په مربوطاتو کې د دښمن پر مستحکم پوځي مرکز برید وکړي چې له امله یې یاد مرکز او د هغه اړوند ۱۲ پوستې په مکمله توګه د مجاهدینو تر ولکې لاندې راغلې او هلته د رژیم میشت ۱۰۷ ډارن ځواکونه د مجاهدینو په لاس مړه او ژوبل شول.

د دښمن په وړاندې د مجاهدینو دغه راز پریکنده بریدونه په داسې حال کې ډیر شوي چې امریکایي برغلګرو د مجاهدینو د ځپلو او له منځه وړلو لپاره خپل ټول وس کارولی دی.

هغوي د مجاهدینو د ځپلو په پلمه ولسي سیمې بمبار کړې، د ولسي خلګو په کورونو یې شپني عملیات تر سره کړي او د هیواد په یبلابیلو سیمو کې تر مختلفو نومونو لاندې وحشیانه عملیات تر سره کړي دي.

خو مجاهدینو د خپلو جهادي تجربو له مخې د دښمن د دغو عملیاتو له ضرر څخه د ځان د خوندتوب او د هغوي د پوځي تعرضونو د شنډولو په غرض داسې پیچلي تکتیکونه کارولي چې د دښمن تر ټولو مجهز کوماندویي ځواکونه یې له خپلو پرمختللیو وسلو سره پر شاتمبولې ، وژلي ، ژوبل کړي او په ځینو مواردو کې له وسلو سره ژوندي نیولي دي.

امید شته چې د نوي کال په راتلو او موسمي شرائطو په سمیدو سره به نورهم مجاهدین د یرغلګر دښمن او د هغه په مورال باایللو ځواکونو خپل کاري بریدونه زیات او هغوی به له مزیدې وارخطایي او ماتې سره مخ کړي.

د حماس پرضد

د داعش د جنګ اعلان

حسن زوی

پدې تازه ورځو کې داعش یوه ۲۲ دقیقه یې نوې ویډیو خپره کړې چې پکې یې دمظلومو فلسطینیانو دترټولو راسخ العقیده،متدین،ژمن ،پاک ، دغاصب اسرائیلي دولت په مقابل کې زړور او دسترو قربانیو نه برخمن دحماس په نوم د جهادي غورځنګ پرضد جنګ اعلان کړیدی.

داعش دحماس پرضد دجنګ داعلان لپاره لامل بیت المقدس ته دامریکا د سفارت د انتقال په مخنیوي کې دحماس پاتې راتلل ښودلی دي.

داعش وایې حماس پدې ونه توانېد چې بیت المقدس ته دامریکا دسفارت دانتقال مخنیوی یې و کړي نو باید له منځه یوړل شي.

پدې ویډیو کې ښکاري چې دداعش وسلوال دموسی ابوزماط په نوم یو مسلمان پدې جرم وژني چې په پټه به یې دمصر نه حماس ته وسلې وروړلې.

پدې ویډیو کې داعش خپلو وسلوالو ته حکم کړی چې دحماس ترواک لاندې ټولې سیمې په نښه کړي او دبمونو او توغندو پرمټ یې لوټې لوټې کړي.

دداعش یو مشر چې ځان ابو کاظم مقدسي او دغزې اوسېدونکی معرفي کوي؛پدې ویډیو کې خپلو وسلوالو ته حکم کوي چې دحماس ټول محاکم او دفاعي مرکزونه دې په بمونو والوزوي.

شهیدشیخ احمد یاسین په ۱۹۸۷ م کال کې دژمنو فلسطیني مسلمانانو لپاره دحرکة المقاومة الاسلامیه(حماس) په نوم دجهادي غورځنګ بنسټ کېښود او دهمدې وخت نه دعاصب اسرائیلي دولت پرضد منظم جهادي

مقاومت پیل شو چې ترننه روان دی؛دا جهادي مقاومت چې پراسرائیلو د ډبرو ویشتلونه پیل شوی و دفلسطین او نړۍ په مخلصو مسلمانانو کې یې په ډېرې ټبزې محبوبیت ترلاسه کړ او دسترو قربانیو؛لویې مېړانې؛ داسلام، مسلمانانو، اسلامي مقدساتو سره دوفا او داوږدو هڅو په نتیجه کې دې غورځنګ دومره ستره کامیابي ترلاسه او داسې قوي نظامي ځواک وګرځېدچې د هغه اسرائیلي دولت سره یې په اوږدو جنګونو کې بریالیتوبونه ترلاسه کړل چې په نوم اوربدلو یې هم دسیمې دمهمو ځواکمنو هېوادونو لینګي رپېږي.

نو ځکه حماس دټولو ژمنو فلسطیني مسلمانانو یواځنی نماینده تنظیم ګڼل کېږي او دنړۍ مخلصو مسلمانانو ته په فلسطین کې ترټولو محبوب او غاصب اسرائیلي دولت ته ترټولو مبغوض او په دښمنۍ کې وړاندې مقاومت دی.

حماس دشهرت،محبوبیت او قوت دا مقام وړیانه دی ترلاسه کړی بلکې ددې مقام ترشا ستړې قربانۍ دي او دا دنګه ونه دحماس دشهیدانو مقدسې وینې خړوبوي.

دیني لارښونو ته ژمن ټول فلسطیني مسلمانان ځکه دحماس ترشا ولاړ دي او خپل نماینده تنظیم یې ګڼي چې دحماس جدوجهد پردیني اصولو او ددیني غوښتنو پربنسټ ولاړ دی دفلسطین دازادۍ دنورو حرکتونو په څېر دسیکولر او لبرال نظریاتو نه پاک یو سوچه اسلامي جهادي حرکت دی.

دحماس دقیادت په ایمانداری او استقامت دټولو راسخ العقیده فلسطیني مسلمانانو کامل اعتماد دی او پدې د فلسطین او نړۍ مسلمانان پوه دي چې حماس نه وړاندې دفلسطین دازادۍ حرکت دیادولو وړ بریالیتوب نه و ترلاسه کړی خو دحماس دجوړېدو نه پس فلسطینیانو په نظامي او دیپلوماتیک دواړو ډګرونو کې دیادولو وړ بریالیتوبونه ترلاسه کړي او پدې هم بریالي شوي چې داسرائیلي غاصب دولت خونخواره او وحشي څېره نړۍ ته روښانه کړي.

دا چې اسلامي نړۍ دنړیوالو زبرځواکونو دحملو قبضو،غصب او وحشتونو ښکار ده او پراسلامي نړۍ مسلط زیاتره حاکمان دهمدې عاصبینو مرستندویان دي نو دنړۍ مسلمانان دوخت ددې حاکمانو نه ناهیلي او دټولو دامید سترګې هغه ځوانانو او حرکتونو ته دي چې په اخلاص ددې غاصبو زبر ځواکونو مقابلې ته راوځي ا ودخپلو سرونو او وینو دقربانیو له لارې د اسلام ا ومسلمانانو او اسلامي خاورو نه دفاع کوي.

داعش هم مسلمانانو په پیل کې همداسې یو غورځنګ ګڼلو نو په عراق او شام کې ورسره ګڼ مخلص مسلمانان مل شول خو وروسته چې ددوئ ټول زور د جهادي حرکتونو د ځپلو لپاره په کار واچول شو؛یواځې دمسلمانانو قتل عام ؛دځپلو سیمو نه ددوئ شړل او مالي تاوانونه وررسول یې خپل اصلي هدف وګرځولو نو ټولو پوهو مسلمانانو ته یې اصلي څېره معلومه شوه.

داعش په شام او عراق کې دمجاهدینو پرضد ډېر درانده عملیات وکړل او دې دواړو هېوادونو کې یې دمجاهدینو زور مات کړ خو بیا یې ظالمو او لاسپوڅو دولتونو ته ښه په اسانۍ سیمې پرېښودې؛ددې دواړو هېوادونو هغه سیمې چې دمجاهدینو سره وې نن پرې لاسپوڅې اداري واکمنې دي.

داعش خو غزې ته ځان رسولای او دحماس ترواک لاندې سیمې او دمسلمانانو ابادئ په بمونو الوزولای شي خو دشام سره پرپوله پروت دعاصب اسرائیلي دولت پرلور یوه کوچنۍ مرمۍ هم نه ورولي؛مرمۍ وریشتل خو لرې خبره ده بیخي یې نوم په بده نه اخلي او نه یې هم کوم کرغېړن عمل غندي.

سره له دې چې حماس په کوچنۍ غزه کې محاصره دی یو لور ته سمندر دی چې پکې تل اسرائیلي سمندري ځواکونه مېشت وي چې دغزې عام مسلمانان دکبانو نیولو ته هم نه پرېږدي ،بل لور ته ترې مصر دی چې دولت یې داسرائیلو دولت نه هم دغزې دمسلمانانو سره عموماً او دحماس سره په ځانګړي ډول سخته دښمني لري؛او له نورې نړۍ نه غزې ته راغلي غذایي مواد او دواګانې هم ایله هغه وخت غزې ته راپرېږدي چې اسرائیل ورته حکم وکړي.

دغزې بل لور ته دیهودو ودانئ دي نو له هر لورې محاصرې غزې کې چې حماس داسرائیلي دولت پرضد جهادي مقاومت په بریالیتوب جاري ساتلی دایې لوي کمال دی خو داعش چې دعراق او شام ښه فراخې سیمې په لاس کې لرلې،دعراق دټلو چینو نه یې ښه زیات ټبل راویستل او خرڅول؛دټولې نړۍ سره یې روابط و او له هرلورې ورته ډېرې زیاتې وسلې راروانې دي دوئ خو دې هم وښایې چې داسرائیلو یا نورو غاصبو ځواکونو پرضد یې څه وکړل؟

کـه داعـش سره رښتیا هـم داسـلام او مسلمانانو غم وي او اسلامي شعایر او مقدسات ورته ارزښت لري او دبیت المقدس او مسجد اقصی له غمه مړه وي نو بیا خو پکار ده چې ویلي یې وای چې دالقدس ازادي داسلامي نړۍ یوه له ترټولو مهمو مسائلو څخه ده خو زمور فلسطیني مجاهدین ورونه دشمېر په لحاظ کم او دوسایلو په لحاظ کمزوري دي نو مور یې مرستې ته ورځو.

خو برعکس داعش وایې چې موږ دا دوسایلو په لحاظ کمزوري او دشمېر په لحاظ کم مجاهدین وژنو ځکه چې دامریکا مقابله یې ونه شوه کړای.

دا اوس کوم استدلال او کوم منطق دی؟

آیا اسلامي لارښوونې او د مسلمانانو تاریخ دادی چې کمزوري؛ دکفارو په محاصرو کې راګېر او دکفارو له لورې مغلوب شوي مسلمانان به دکمزورۍ په جرم وژل کېږي؟

دنړۍ ټول مسلمانان پوهېږي چې دغاصب صهیونستي دولت پرضد دحماس مسلح مقاومت ورځ تربلې ځواکمن او منظم کېږي چې داداسرائیلو؛امریکا اوداسرائیلو حمایت کونکو ټولو هېوادونو لپاره ډېره دتشویش وړ خبره ده؛دوئ دحماس دکمزوري کولو او دروان جهادي مقاومت د ختمولو لپاره ډېرې هڅې وکړې؛دوئ دسیمې یو لړ سرکرده هېوادونه هم دې ته اړ کړل چې حماس تروریست تنظیم وګڼي؛مرستې یې پرې بندې کړې او حسابونه یې کنګل کړل خو سره ددوئ ددې ټولو توطیو حماس بیا هم لکه داستقامت غر دخپل دریځ نه لږ هم تېر نه شو او ددوئ ټولې توطئ ناکامې شوې نو اوس یې په فلسطین کې هم هماغه پلان رامخې ته کړ کوم یې چې په عراق،شام او افغانستان کې له دې وړاندې پلي کړیدی.

په افغانستان؛عراق او شام کې چې دداعش په رامنځته کولو مجاهدینو او روانو جهادي مقاومتونو ته لوي تاوانونه ور واوښتل همداسې غزې ته هم داعش ورداخلول؛ دداعش په لاس دحماس له منځه وړل او دغزې لوټې لوټې کول غواړي.

خودا چې دداعش اصلي څېره اوس دنړۍ ټولو مسلمانانو ته روښانه شویده دغزې مسلمانان به په ډېرې سختۍ غزې ته دداعش دوسلوالو دننوتلو مخنیوی وکړي او دشیطاني قوتونو داپروژه به دتل لپاره ناکامه شي.

ان شاءالله تعالی

زمونږ ښوونيز نصاب

او د علمي کدر دنده

سعد کتوازی

زمونږ د تيرو او هم روانو ستونزو اساسي لامل له علم او پوهې څخه زمونږ د اولاد او خوان نسل ليرې کيدل او له سالیمې روزنې بې برخې کيدل دي، هغه سالیمه روزنه چې د خپل تهذيب او کلتور په چوکاټ کې ترسره شي، له بل هيڅ باندينې لورې يې سرچينه او اغيز نه وي اخستی او د وخت په غوښتنه هم پوره و خيږي.

زمونږ هيواد ته د پردې فرهنګ واريدېدلو راته زمونږ له وسي پورته زيان دا اړولی چې هغه (عصري) زده کړې چې د دينې هغو ترڅنګ زمونږ د نوې نسل له اړتيا وو څخه بلل کيدلې، د وخت په غوښتنه به مو د خپل دين او کلتور په قالب کې خپل اولاد ته ور کولې د يو بيل نصاب په بنه او د تعليم په نوم د مدرسو له نصابه و وتلې، دغو زده کړو ته مونږ له دې امله عصري وايو چې د وخت په غوښتنه يې ترلاسه او خپل نوې نسل ته ور کوو.

خو له نن څخه نړدې يوه پېړی له مخه چې زمونږ هيواد خپلواکې نه وه ترلاسه کړې يو برطانوي (lord meakoli) لارډ ميکالي هند ته راغی ترڅو مسلمانانو ته يو داسې پوهنيز نصاب چمتو کړي چې په لوستلو سره يې د هغوی نوی نسل په فکري لحاظ انګريزان وي، له ډيرو هڅو او خواريو وروسته يې همداسي وکړای شول او د نوې مسلمان نسل د دينې زدکړو ترڅنګ يې د هغه موازي د عصري زده کړو نصاب رامنځ ته کړ چې ور سره مدرسه او پوهنځی هم يو له بله جلا شول.

زمونږ د نوي نسل احساس او رغبت يې هم متلاشي او تر اغيزلاندې کړ چې په يو وخت کې دواړه ډوله زده کړو ته لاس رسی ستونزمن او هره يوه يې له بلې پرته راته بې ګټې هم وي، که يې ژورو ته سر ور کوز کړو نو وبه وينو چې همدغه له مدرسې څخه د ښوونځي بيلتون د دين او سياست د بيلتون پيلامه وه، او له همدې امله عصري زدکړه له دينې زدکړې پرته سالمه نشو نومولای، او يواځې دينې زدکړه هم د وخت په غوښتنو پوره نه خيږي.

مونږ تر هغه متمدن او ښيرازه ملت بلل کيدلو چې ښوونيز نصاب مو يو او په خپل واک کې و، له هغه را وروسته راته ډير زيات زيان واوښت،

کړاوونه او ستونزي مو پرخان وګاللې اولا روان دي، خو بيا هم زموږ خپنې علمي کدرونو په دې ټولـه موده کې د دغه اړوند د پام او فکر زحمـت هـم پـه ځان نه دی ګاللی، چې اوس موږ او خپل اولاد يـو د بل په خبره نه سره پوهيږو، فکر او مکتب مـو هـم يو له بله ليرې والي ته نږدې دی.

داسي ښکاري چـې د هيـواد پخـوانې جهـادي مشران همدغه ناورين سره په جنګ کړل او جهادي کرښـه يـې پـه ډلـو ټپلـو و ويشـله، خپنـو ځانتـه پوهمين او تعليم يافته و ويل او د دينې طبقـې پـه وړاندې و دريدل، ورسره يې د جهاد هغه مـوخې هـم له ور رسيدلو مخکې وننګولې چې په دينـي او مـلي اساساتو ولاړې وې.

په دې خپلمنځې لفظې شخړو کې مـو د جـلا جلا وړتيا و هغه خلک هم زياتر له لاسه ورکړل چې د تنکی نسل په سالیمه روزنه کې به يـې ډيـر څـه بلکې هرڅه کړي وو ، چـې اوس يـا خـو بيخـې لـه منځه تللي او يا هم له فکري اوښـتون سره مـخ او د سالم فکر په نه لرلو سره د دې وړ نـه دي چـې زمـوږ اولادونوته روزنه ورکړي، له دې پرته يې بې شـميره ستونزې نوري هم و زيږولې چې مـوږ يـې هـره ورځ وينو او پوهيږوکه وخت په وخت زموږ نـوي نسـل سواد او روزنه درلودلای نو داسي به نه کيدل.

خو داسي سپين زړې او پاک زړي خلـک هـم شته (که څه هم کم دي)چې د دينې او عصري زدکړو يو له بلې سره د بيرته نـږدې کولـو زيـار بـاسي، او ليري نه ده لکه چې د طالبـانو مشـر ملامحمـدعمر مجاهد دين او سيا ست بيرته سره را يو ځای کړل د هغو د بيلتون لامل به هم له منځـه لاړشي، دينـې او عصـري زدکـړې بـه پـه نـوې ميتـود برابـرو شـويو نصابونو په بنه عيار او را يو ځای کړل شي.

د نـوي نسـل پـه دينـي او مـلي اقـدارو او ارزښتونو پوهولو، د خپل تاريخ اوږده شاليد ته يـې پام اړولو، په سالیمه روزنه او فکري پوهنه پسـوللو او برابرولو سره موږ کولای شو ځانونه، ټولنه او نوی کوول له را پيښو ستونزو او شخړو ايلـه کـړو، د بيـا لپاره يې تړې و ژغورو او د هغو ستونزو لـه تسلسـل څخه يې وباسو چې د هرې يوې د پای ټکـی د بلـې سرليک وي.

سـالیمه روزنـه څـومره چـې ښـو اسـتادانو، چاپيريال، مدرسو او ښوونځيو ته اړتيالړي له هغـه لوړه يې يو بنه ښوونيز نصاب تـه لـړي، او بيـا هـر نصـاب د ليـږ وخـت پـه تيريـدو نوښـتونو تـه اړ کيږي، خو موږ له ليږ وخت نـه بلکـې لـه لسـګونه کلونو راسې اړتيا سره سره د مسـلکي پرسـونل د نـه لرلو له وجې تړې بې برخې يو.

په نوې ميتود ښوونيز نصاب برابر ول زموږ د علمي کدر دنده ده او د همدوی په ابتکار او رغنـده هڅو را مـنځ تـه کيـدای شي، چـې لـومړی د تـيرو نصابونو نيمګړتياوې درک کړي او بيا همدغو خلاو ته په خپل ابتکار د وخت د غوښتني توکې ور ځای کړي، اسانتيا وي پکې راولي، او د هر فـن پيـل تـر روزنه لاندې افرادو په مورنۍ ژبه او د هغې په ليک او لوست سره وکړي.

په همدې هيله

خليل - عزيز

په جګړې تيل څوک شيندي؟

داسلامي امارت دغه دريځ چې په افغانستان کې دسولې اوارامۍ دراتلو يوائيني لار اوموثرادرس دابولی چې هغه څوک لدوئ سره مذاکراتو او خبرو اترودميزته کښيني چاچې په افغانستان کې له تيرو۱۷ کلونوراهيسې ناروا جګړه شروع کړې دافغانستان خاوره اوارزښتونه يې اشغال کړې اودافغانانو دملي حاکميت په مړی پښه ايښې چې هغه امريکايان دی

خوشبختانه ددغه معقول موقف دتائيدولو غږونه اوس دغرب دمهمو څيرو له حنجرو هم راپورته کيږي اومهم يې بوليداسلامي امارت ددغه معقول اومنطقي موقف ښه وضاحت په هغه پرانيستي ليک کې ښه ترسره شوی چې په دې ورستيوکې دامريکايي ولس په نوم خپوراوله تصورخخه يې زيات دامريکايی ولس اولويديځوالو داذهانو په روښانولوکې رول ولوباوه

امريکايی چارواکي چې کله په ليک کې داسلامي امارت دمنطقي سياست او ديپلاماتيکي بريالی تګلاري اساسي ټکي وليدل نو په افغانستان کې يې خپلو حلقه بګوشو غلامانو ته امروکړ چې د(کابل دسولې پروسې) په دوهمه ناسته کې دسولې په اړه يوليږ نمايشي اوسطحي تنازلات اووړاندیزونه اعلان کړي ترڅولـه يوه لوري دامريکايي ولس په عنوان دخپاره شوي ليک دمحبوبيت اوتاثيرګذاری کچه ټيټه کړي له بل لوري دافغان ولس په ذهنونو کې داخبره راولاړه کړي چې دسولې اوروغې په مخ کې اصلي خنډ طالبان دي چې ګواکي داشرف غني له دومره نرمو خبرو اووړاندیزونو سره بيا هم آماده ندي چې دسولې په سرله رژيم سره

کښینی اوخبري وکړيخوحقيقت ډيرښکاره او لکه لمرروښانه دی چې دحقيقي سولي غليمان اوترړونکي څوک دي اوڅوک له يوې ورځي څخه بلي ورځي ته په جنګ تيل شيندي

پرون واشنګټن پوست دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو دسرمنشي دپخواني استازي، کای آيده هغه خبري رااخيستي وي چې ولي اسلامي امارت چمتوندی ترڅومخامخ له کابل رژيم سره مذاکرات وکړي کای آيده ويلي چې د طالبانو دغه نظر منطق اووزن لري چې دوی د افغان حکومت پر ځای غواړي له امريکا سره د سولې خبرې وکړي، ځکه چې د افغانستان پوځي ستراتېژي په واشنګټن کې جوړه شوېده اوکابل رژيم په دې برخه کې ديوه معمولي ګام اخيستلو واک اوصلاحيت هم نلري

اساسي خبره همداده چې تردې دمه امريکا په خپلې جنګي ستراتېژۍ کې په افغانستان او سيمه کې د بمباريو، پوځونو زياتولو او جګړه ييزو فعاليتونو زياتولو تېنګار کوي، افغانستان د دوی د جګړې او په سميه ييزه کچه د قوماندې مرکز دي، دکابل په رژيم د دوی سيوری دومره زيات خوړيدلی اوپروت دي چې لومړی او وروستی خبره پکې د همدوی وي. د جګړې او اور بند واک څه چې د هېواد د ځمکې او فضا کنټرول د دوی په لاس کې دی خپله اشرف غني څوځله ويلی که امريکا تنهازمونږ په اردو تيل اوډالر بندکړي مونږ ديوي اونی تاب او امکانات هم نلرو چې دطالبانو په مقابل کې وجنګيږو.

نواوس دې ددرک اوفهم څښتنان په خپله قضاوت وکړي چې دسولي اومذاکراتو په هکله داسلامي امارت موقف اودريځ څومره پرځای منطقي اوحياتي دی اوايا دکابل رژيم واکمن ددې صلاحيت لري چې درښتيني سولي د اعادي اوتېنګښت په برخه چې هغه دخارجي قواوو له وتلوورسته ممکن دی کوم اساسي کردار اداکړي ؟

د اسلام غزوات او سرایا

د خیبر غزوه

په تیرپسې

ابوظهیر

وړاندې څومره غزوات چې ولیکل شول، ډیری هغه وو چې په عربو کې دعربانو سره شوي وو، د ثقه روایتونو په استناد رسو ل الله ﷺ چې کله د حدیبې نه ستون شو دهغه زمانې مشهورو پاچایانو او واکمنوته یې لیکونه واستول دعلماوو په قول: دنړۍ دشاهانو په نومو درسول الله ﷺ لخوا لیکونه استول ددې دلیل دی چې د رسول الله ﷺ نبوت او ر سالت یواځې ترعربو پورې خاص نه بلکې عرب و عجم، انس و جن ، یهود و نصاری،مشرکانو او مجوسیانو ټولو دهدایت لپاره مبعوث شوی

دلیکونو لیږلو وروسته رسول الله ﷺ دهجرت په ۷ کال دخیبر یهودانو سره جهاد وقتال وکړ او دهجرت په ۸ کال موته نوم ځای ته دنصاری وو سره دجنګ لپاره سریه ولیږله، دکومې لپاره یې له یوبل وروسته دامیرانو په توګه حضرت زید، حضرت جعفر او عبد الله بن رواحه رضی الله عنهم ونومول آن دهجرت په ۹ کال پخپله مبارک ﷺ دروم د پا چا (قیصر) مقابلې په نیت تبوک ته لاړ، کوم چې دتبوک مشهورې غزا په نوم شهرت لري ، داغزا دشام له نصاری وو سره وه، معلومه شوه چې درسول الله ﷺ بعثت یواځې ترمشرکانو یا عربو خاص نه و بلکې یهود و نصاری او ټول عالم درسول الله ﷺ په دعوت او شریعت مکلف و ، مکلف دی او مکلف به وي که نه وای بیا ور سره جهاد څه معنی؟

رازو خیبر غزاته کله چې مسلمانان له حدیبیه بیرته ستانه شول، د ستنیدو په وخت کې فتح سورة نازل شو، پکې الله تعالی مسلمانانو سره عموماً او دبیعت رضوان له صحابه وو سره خصوصاً وعده وکړه چې: تاسو به ډیرې سوبې ترلاسه کړئ اوهم په لوی شمیر کې غنیمتونه به په لاس درشي او د بیعت رضوان په انعام کې یې بالفعل دخیبر

فتح ورکړه ،دمکې سوبه چې هغه مهال له لاس وتلې وه هم واخلئ او په راتلونکي کې به تاسو ته نور فتوحات په نصیب شي دکومو علم چې مورږ ته دی

الله تعالی فرمایلي:

وَعَدَ كُمُ اللهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأ خُذُو نَهَا فَعَجّلَ لَكُم هذهِ

پورته ایت کې [فعجل لکم هذه] څخه دخیبر فتح مراد ده او هم داشان [واثابهم فتحا قریبا] څخه دخیبر سوبه مراد ده

رسول الله ﷺ له حدیبیه نه مدینې منورې ته راغی، ذی الحجة الحرام او دمحرم په لومړیو کې په مدینه منوره کې مقیم و، دې وخت کې ورته دالله تعالی لخوا په خیبر دحملې حکم اوشو، چیرته چې هغه غدار یهودان میشت ول کومو چې احزاب جنګ کې کړی عهدي مات کړی وو او له کفارو سره یوځای یې په مدینه منوره یرغل کړی وو ،الله تعالی چې کله رسول الله ﷺ ته داخبر و رکړ ، دخیبر فتح زیري په اوریدو منافقانو هم له رسول الله ﷺ نه غوښتنه وکړه چې مورږ تاسره په دي سفر کې ملتیا کوو ، الله تعالی حکم نازل کړ چې هغوی (منافقین) دي تاسو سره یوځای نه درومي لاندي ایت په دي باره کې نازل شو:

سَيَقُولُ المُخَلّفُونَ اِذَا انطَلَقتُم اِلَى مغَانِمَ لِتَأ خُذُو هَا ذَرُونَا نَتبعكُم يُرِيدُونَ اَن يُبَدّلُوا كَلَامَ اللهِ قُل لَن تَتّبِعُونَا كَذلِكُم قَالَ اللهُ مِن قَبلُ فَسَيَقُولُونَ بَل تَحسَدُو نَنَا بَل كَانُوا لَايَفقَهُونَ اِلّا قَلِيلا

هغه کسان چې دحدیبیې له سفر ه وروسته پاتې وو کله چې دخیبر غنیمتونو ترلاسه کولو لپاره تاسو وتلئ، دغو طامعو خلکوتاسو ته وویل: مورږ ته هم اجازت راکړئ چې تاسو سره خیبر ته لاړشو الله تعالی دهغوی په اړه وفرمایل: داخلک غواړي چې دالله حکم او دهغه وعده بدله کړي ته ورته ووایه! چې تاسې هیڅکله مورږ سره نشئ تلی الله تعالی له وړاندې څخه داحکم کړی دی بیا داد طمعې خاوندان دانیوکه کوي چې تاسي مورږ سره حسد کوئ او غواړئ چې په غنیمتونو کې مورږ در سره شریک نشو، حال داچې دا بلکل غلط دی، دصحابه وو زړونه دحسد او حرص څخه پاک او منز ه وو بلکې په دې خبره ډېر کم خلک پوهیږي چې دکومو خلکو په نظر کې ټوله دنیا دمچ وزر او مره هم وقعت ونلري دهغوی په اړه دحسد تصور لویه ناپوهې او نادانې ده

دهجرت په ۷ کال رسول الله ﷺ له ۱۴ سوه پلي او ۲ سوه سپرو ډلې سره دخیبر په لور خروج وکړ دمومنانو له میندو څخه ام المُؤمنین ام سلمه رضی الله

عنها درسول الله ﷺ په دي سفر کې ملـه وه (فـتح البـاري ۷ټـوک ۳۵۶ـ زرقـاني ۲ټوک ۲۱۷مخ)

په بخـاري شـريف کې دسـلمة بـن اکـوع رضي الله عنه نه روايـت دی: کله چې مـوږ درسـول اللـــه ﷺ ســـره يوځـــــای دخيبـــر پـه

لور روان شو ، مشهور شاعر عـامر بـن اکـوع لانـدي رجزيـه اشـعار ويـل او ترټولو وړاندي روان و :

اَللّٰهُمَ لَو لَا اَنتَ مَا اهتَدينَا

ولَا تَصَدّقنَا ولَآ صَلَينَا

ژ: اي الله که تا هدايت نـه وای کـړی مـوږ بـه هيڅکلـه هـدايت منـدلی نـه و او نـه بـه مـو صدقه او خيـرات ورکـړی و او نـه بـه مـو يـو لمونځ کړی و

فَا غفِر فِدَاءً لَک مَا اتّقاينا

وَألقِينَ سَكِينةً عَلَينَا

ياخدايـه!مـوږ پرتـا فـدا او قربـان يـو کـوم احکـام چـې مـوږنـدي پـوره کـړي مـوږ اوبانبه،خاصه سکينه او ډاډ په مونږ نـازل کـړه، څـو زړه تـه مـو سـکون او ډاډ راشـي او دهـړدول پريشـــــانيو او لالهانـديو څخـه خلاص شو

وَثَبِـــت الأَ قـدَامَ اِن لَـا قِينـاَ

اِنا اِذاصِيحَ بِنَا اَتَينَاَ

ژ: ددښـــــمنانو سره دمقابلې په مهال مـوږ ثابـت قـدم کـړي هرکلـه چـې د جهاد وقتال لپاره غږ کړي نو په منـډو مې ور ولي

(فتح الباري ۷ټوک ۳۵۷مخ)

په مسند احمـد کې ځينې کلمـات رجزيـه نور هم زيات دي

اِنَّ الَّذِينَ قَد بَغَو عَلَينَا اِذا اَرادُوا فِتنة اَبَينَا

ژ: په تحقيق سره چاچې په موږ ظلم کړی هغوی په کفر و شرک کې زموږ د مبتلی کولو اراده لري خو موږ يې نه منو

ونَحنُ عَن فَضلِک مَا استَغنينا

ژ: پروردګاره! موږ ستا په فضل و کرم سره مستغني او بې پروا يو

رسول الله ﷺ وفرمايل: دا (حدي څوک وايي) خلکو وويل: عامر بن اکوع دی رسول الله ﷺ وفرمايل: يَرحَمُهُ الله، الله تعالی دي پري رحم وکړي

او په مسند احمد کې روايت دی:

غَفَرلک ربُک

پروردګار! دي تاته ښښنه وکړي

او رسول الله ﷺ به چې کله کوم کس ته کومه خاص دعاء وکړه هغه به خامخا شهيد کيده په همدي وجه حضرت عمر رضی الله عنه عرض وکړ:

دالله پيغمبره! دده لپاره خو جنت واجب شو کاشکې! دعامر شجاعت څو ورځې نور هم متمتع او متنفع وای(فتح الباري ۷تړوک ۳۵۸)

په لاره کې يو لوړ ځای ته ورسيدل صحابه وو رضی الله عنهم دتکبير غږ پورته کړ رسول الله ﷺ وفرمايل: پخپلو ځانو رحم وکړئ تاسو کوم غايب او کانړه ته ناړې نه وهئ ، تاسو هغه ذات ته غږ کوئ چې هغه اوريدونکی او قريب دی او هر وخت له تاسو سره دی

ابو موسی اشعري رضی الله عنه وايي:

زه درسول الله ﷺ سورلی ته نيږدي وم رسول الله ﷺ زما له خولې ... لاحول ولاقوة الابا الله ... واوريده، په عبد الله بن قيس سره يې ماته غږ کړ(دا ابوموسی اشعري کنيت و) ما وويل: لبيک يارسول الله !

رسول الله وفرمايل: ايا زه تاته دجنت خزانه او نه ښايم؟

ما عرض وکړ: زما مور وپلار دي له تاځار شي ولې ضرور راته او ښايه!

رسول الله ﷺ وفرمايل: لاحول ولاقوة الابا الله يعنې داکلمه دجنت خزانه ده . بخاري

داچې رسول الله ﷺ ته معلومه وه چې غطفان دخيبر ديهودو لپاره لښکر راټول کړی په دې وجه دمدينې منورې څخه لاړ په رجيع نوم ځای کې کوم چې دخيبر او غطفان ترمنځ دی واړول څو دغطفان يهودان مرعوب شي او دخيبر يهودانو ته کومک ورنکړي نو کله چې غطفان ته معلومه شوه چې دوی خپله ته خطر دی نو بيرته ستون شو ابن هشام ۲ توک ۱۵۸ مخ

نوربيا...

د مورچل ویږمي

(جنتي لېونی)

اکرام الدین مفتون

دا چې د سر په بدل اخلي ازادي لېونی
دې غیرتي ځلمي ته وایي فدایي لېونی

دا عجیبه غوندې نوښت نه دی؟ د وخت ملګرو
چې د دنیا په غېږ کې ګورم جنتي لېونی

د خپلواکۍ لیلا ته ور یې کړو ثبوت د وفا
ورته لوګی شولو په شان د سپېلني لېونی

زړه یې د رب سپېځلې مینې پارولی دومره
چې په لمبو لمبه کوي خپله ځواني لېونی

که نړۍ وال لېونی دا سې وحشتونه کوي
نو دا نړۍ به نړوي پرې جهادي لېونی

دا د دنیا د خواهشاتو لېونی مه بوله
په دنیا غواړي امارت اسلامي لېونی

دا څه یو څو لېونی نه دي چې بس ختم به شي
مفتونه ډېرلري ملګري لیوني لېونی

غزل

خالقیار احمدزی

څه سپیڅلي یې اخلاق دي عجیبه شانته انسان دی
څه د وخت نامتو افسر دی، مجاهد د قهرمان دی

څه خالد د زمانې دی دیرموک ډګر دی ګرم
څه د تورو ماتیدل دي ګرم کړی یې میدان دی

څه د سولې سپین عقاب دی، ستایل شوی دی نړۍ کې
د دې عصر په ښکلاو، نازولی غازي ځوان دی

یادابنستونه یې تازه کړل، ایوبی اوغزنویانو
ابدالی به هم پرې خوښ وي، دناهید هم دا آرمان دی

د تعریف له کچې لوړ دی صفتونه یې هم ډیر دي
دغه ول په ول پګړۍ یې چې په سر ده طالب جان دی

په دې هسې تخیل کې یې صفات غزل غزل شي
ستر اتل د زمانې دی خالقیاره راته ګران دی

طالب جانه

عاکف مهاجر

طالب جانه زما زړه دې رانه وړی
طالب جانه زه په تا باندې مین یم
طالب جانه په نامه باندې دې ویاړم
طالب جانه ستا د ژوند په ستر کتاب کې
چې لیکلې ښه درانه دي
د زمزم په اوبو لیک دي
د کتاب دې درانه توري
څه ځلیږي لکه ستوري
طالب جانه د بلا ملا دې ماته
په ګونډو دې کینولی
طالب جانه بس یو ته یې
چې باطل دې څملولی

طالب جانه د وطن لیلا درګوري
پرې باران د مینې اوري
طالب جانه لږ یې تاته زړګی ښه ده
لکه مات زړګی یې بیا چې پرهریږي
بیا یې ورک پیزوان پیدا شو
بیا یې زړه په تا شیدا شو
بیا یې هیلې راژوندی شوې
بیا یې ژوند یوه خندا شو

طالب جانه ته د لارې یو مشال یې
طالب جانه ته اذان د ورک بلال یې
ستا په غږ به مونږه ټول تر تا رادرومو
له مسجد د ازادۍ یو اذان وکړه
د ښامار په خوله کې ماتې کړه وردا ړې
د وطن شیرینه ستا په مینه ناسته
د راتلو دې اوس له وخته لارې څاري

طالب جانه ګلبشره درته نعرې کړې
د جومات په دروازه درته ولاړه
یو څو نورې ګلبشرې هم ورسره دي
طالب جانه اوس یې جام په لاس کې نشته
طالب جانه اوس یې لاس په وینو سور دی
ها چې تا ته یې په مینه وو نیولی
هغه ګل یې اوس له لاسه غورزیدلی
طالب جانه اوس یوه بله ټپه وایي
خوب مې لیدلی چې بلا مې درنه وړینه

طالب جانه د وطن د باغ بلبله
د وطن د هر ګلزار ښایسته ګله
دا وطن په تا ښایسته ده ښه ښکاریږي
دا وطن دې بې تا نشي ګل ګلابه
طالب جانه د عاکف د وطن خاوره
هره سمه هره ګاره اوس تا غواړي

۲۰۱۸ زکال

د فبروري دمیاشتې جهادي خبرونه



دا د لوګر ولایت مرکز اړوند ، کمال خېلو کلي جمات ده، چې وحشي
او ظالم اربکي قومندان سبزعلي پرخلکو بند کړی، بیا یې تـرې پوسته جوړه کړې

د عامو خلکو کورونه د امریکایي بمبار په نتیجه کې

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal